لېږي.

(دچا په باره کې چې امتحان تطبیق کېږي) څوابونه یې د اندازه ګیرۍ لپاره استعما

امتحان په لغت کې آزمایل، سنجش یا د ښه والي او بد والي سنجولو

معنیٰ لري، او په اصطلاح کې د یوه منظم او کنترول شوي عمل څخه عبارت دی

چې د تعلیم او تربیې د اهدافو د تطبیق په منظور د افرادو د تربیوي پرمختګونو

د معلومولو لپاره استعمالېږي.

یا په بل عبارت امتحان هغه عملیه ده چې د تعلیم او تربیې د اهدافو د

تطبیق او معلومولو په منظور سرته رسېږي. همدا راز د شاګردانو د پوهې

آزمایل او معلومول د معلم یا ممتحن په واسطه د امتحان په نوم یادېږي.

امتحان د کال په اوږدو کې د وه یا درې وارې د ښوونکي په واسطه یا د

مدرسې د ادارې یا د تعلیم او تربیې د لوړ مقام تر نظارت لاندې په رسمي

ډول سرته رسېږي. امتحان عموماً په یوه معین وخت کې اخیستل کېږي.

د امتحان هدفونه: په تربیتي چارو کې د آزموینې اهداف په لاندې

دوه اصولو متکي دي:

۱: — د تدریسي وضعې ښه کول.

۲: — د شاګردانو درجه بندي د هغوی د پرمختګ په اساس.

که د امتحان اخیستلو هدف فقط د زده کړې د فضا ښه والی (ډبهبود)

وي نو د امتحان اخیستلو په هدف کې لاندې نقاط شاملېدای شي:

۱: — د زده کړې په مقصد مطلوبه انګېزه پیدا کول

۲: — د شاګردانو د نیمګړتیاؤ د ښېړولو او اصلاح لپاره د هغوی کمزوري او غښتلي

۳: — په صنف کې د شاګردانو ګروپ بندي د هغوی ښو ... یې، علایقو او یا

د هغوی د ګډو (مشترکو) پرابلمونو (مشکلاتو) له نظره

۴: — په هغو حقایقو چې مهم بلل شوي وي، ښوونکی د هغو د ښا ... نی کولو

(معلومولو) په خاطر ورته په اهمیت قائلېږي.

۵ : ـــ د عموميا تو په شان د خصوصيا تو د زده کولو لپاره د شاگردانو تشويق او ترغيب البته دا په هغه صورت کې چې کله بنوونکي خصوصياتو ته په خاصه توجه کولو او اهميت قايل وي .

۶ : ـــ د صنفي معينو (ټاکلو) اهدافو په تناسب د شاگردانو درجه پيدا کول .

۷ : ـــ په درسي پروگرامونو کې اصلاحات راوستل .

۸ : ـــ د تدريس د روشونو د مؤثر کولو په برخه کې د ښوونکو لارښوونه .

۹ : ـــ د تدريس د عمومي او خصوصي اهدافو ارزيابي د شاگردانو د زده کړې داندازې (آموزشي مقدارونو) له نظره .

په دوهم صورت کې يعنې کله چې هدف د شاگردانو درجه بندي کول د هغوی د تحصيل (کسب کړې زده کړې) پر اساس وي نو په دې صورت کې د امتحان اهداف کېدای شي په لاندې ډول وي :

۱ : ـــ د شاگردانو انتخابول د هغوی د لياقت په اساس په رقابتي مسايلو کې لکه پوهنتون ، عالي مؤسساتو ته انتخابول يا په دولتي امورو کې استخدام ونو .

۲ : ـــ له يوه ټولگي څخه بل ټولگي ته د شاگردانو ارتقا .

۳ : ـــ د شاگردانو د يوه گروپ مقايسه کول د بل گروپ سره .

۴ : ـــ د شاگردانو په منځ کې د فردي اختلافاتو (مميزاتو) وگړنيو توپيرونو د ساحې معلومول .

۵ : ـــ د يوه شاگرد مقايسه کول د گروپ د اعضاؤ سره يې .

۶ : ـــ د شاگردانو د پرمختگ له وضعې څخه خبرېدل .

د ازموينې ډولونه :

د معلوماتو د خلاصه او د زده کړې لپاره د هغو د آسانه کېدو يوه لاره هم د هغو (معلوماتو) تصنيف يا دسته بندي ده .

پر هاند کوښښ کړی چې آزموینې او د تربیتي ارزیابۍ وسایل د هغو د گډو (مشترکو) ځانگړتیاو (خصوصیاتو) په نظر کې نیولو سره تصنیف کړي.

د آزموینو نامگذاری، د هغوی په صنف بندۍ کې د منل شوو معیارونو له نظره فرق کوي چې په لاندې ډول بیان شوې دي:

۱:- امتحان د ځای او محل صدور له نظره:- که ځای او محل صدور معیار ونیول شي نو آزموینې په دوو برخو وېشل کېږي

الف: خارجي آزمونیه.

ب: داخلي آزموینه.

۲:- د وخت او مودې له نظره:- د معیار په صفت د وخت نیولو په صورت کې آزموینې په دریو برخو وېشل کېږي

الف: کلنۍ آزموینه

ب: میاشتنۍ آزموینه

ج: هفته وار آزموینه

۳:- د ځوابونو د ماهیت او څرنگوالي له نظره - د دې معیار له نظره آزموینې په لاندې ډول په دریو برخو وېشل کېږي

الف: تحریري ب: تقریري ج: عملي

۴:- د سوالونو د ډولونو له نظره:- که د سوالونو جوړښت او شکل په نظر کې ونیول شي آزموینې په لاندې ډول تقسیمېږي:

الف: مقالوي یا تهیوي یا تشریحي آزموینه.

ب: عیني یا آفاقي یا مختلطه آزموینه.

موږ به په څلورم ډول یعنې د سوالونو د ډولونو له نظره په آزموینو مفصل بحث وکړو.


آزموینه
د وخت له نظره
هفته واره، میاشتنی، کلنی
د ځای او محل صدور له نظره
خارجي
داخلي
د ځوابونو د ځرنګوالي له نظره
تحریري
تقریري
عملي
د سوالونو د ولو له نظره
مقالوي یا تهیوي آزموینه
تحریري
تقریري
وسیع ځوابه
محدود ځوابه
لنډ ځوابه
عیني یا آفاقي آزموینه
صحیح او غلط
انتخابي (څو ځوابه)
تکمیلي (خانه خالي)
مقابلوي

د سوالونو د ولونو له نظره د آزموینې اقسام :

الف : مقالوي آزموينه : دا ډول آزموينې د ډېرو پخوانيو او زړو سيستمونو څخه يو سيستم دی، د ځينو نواقصو په درلودلو سره يې خپل ځان عيني امتحان ته پرې ايښی دی .

په مقالوي امتحان کې شاګردان په خپل قلمي روش د سوالونو ځوابونه تهيه کوي، د غه ډول امتحان د شاګردانو د لياقت د معلومولو او د لازمه موادو د تنظيم لپاره ښه ګټور دی .

په دې امتحان کې د سوالونو تعداد د نظر عيني امتحان ته ډېر کم، لېکن ډېره عمومي بڼه لري .

د دې ډول امتحان جوړول آسان دي، امّا د نمرو ورکول يې ډېر ګران او مشکل کار دی . د امتحان کيفيت او نمره ورکول د نمره ورکوونکي تر مهارت پورې اړه لري په تجربه ثابته شوې چې د تاريخ د مضمون پارچه يې په (۱۱۵) معلمينو وکتله چې نمرې ورکړي، هر يو مختلفې نمرې ورکړې چې ټيټه نمره يې (۴۵) او لوړه نمره يې (۹۰) ته رسيدله، همدارنګه د هندسې يوه پارچه يې د (۱۱۵) معلمينو په واسطه وکتله تر ټولو ټيټه نمره يې (۲۸) او تر ټولو لوړه نمره يې (۹۲) وه .

بدې نوع امتحان کې يو بل شی ډېر مهم دی هغه دا چې د غه ډول امتحان بايد په واضح ډول بيان: شي تر څو شاګردان په اشتباه کې و نه غورځېږي .

د مقالوي آزموينو ډولونه :

مقالوي آزموينه په دوه ډوله ده:

۱ :— تحريري   ۲ :— تقريري

چې تحریري آزموینه بیا په درې ډوله ده:
الف :ـ وسیع ځوابه (اوږده مقالوي) آزموینه
ب :ـ محدود ځوابه آزموینه
ج :ـ لنډ ځوابه آزموینه

الف :ـ وسیع ځوابه تحریري آزموینه: د دې ډول سوالو ځوابونه نامحدود وي چې په نتیجه کې د ځواب کنترول ډېر ګران وي. دغه ډول سوالونه د څرنګوالي (ماهیت) له نظره عمومي بڼه لري مثلاً د ښوونکي او درسي موادو رول په تدریس کې تشریح کړې؟ یا د زکوٰة په باره کې خپل معلومات ولیکه؟
شاګرد ته اجازه ورکوي چې د واقعي معلوماتو په انتخاب او په ځواب کې د نورو معلوماتو په شاملولو او ترتیبولو کې پوره آزادي ولري.
په دې ترتیب وسیع ځوابه مقالوي آزموینه د هر ډول عمومي زده کړې د اندازه کولو لپاره ډېره ګټوره ده لکه د مفکورو د تنظیم کولو او ارزیابي کولو د استعداد معلومول، د جامعو مسایلو حل او نور.
امّا د ځواب اندازه او کنترول او نمره ورکول یې ډېر ګران دي.

ب :ـ محدود ځوابه آزموینه: د دې ډول آزموینې سوالونه د شاګرد د ځواب په اوږدوالي او ترتیب کې یو حد تعینوي مثلاً د وسیع ځوابه آزموینې د وه ګټې او دوه نقصانونه بیان کړې. دغه ډول محدودیت د حقایقو د اندازه کولو لپاره ښه وسیله ده اما د استعداد د مفکورو د ترتیب او تنظیم د اندازه کولو لپاره نامناسب ده.

ج :ـ لنډ ځوابه آزموینه: په دې ډول سوالونو کې د شاګرد ځواب نور هم محدود شوی او مجبورېږي چې هر سوال ته یو معلوم ځواب ووایي لکه داسې چې د شاګرد څخه غوښتل کېږي چې د سوال لپاره په یوه جمله یا یوه عبارت ځواب تهیه کړي.
دغه ډول آزموینه د حقایقو د یادساتلو او حافظې د اندازه کولو لپاره ښه

وسیله ده . مثال : (۱) د افغانستان د ۲۹ ولایاتو څخه د دریو نوموونه واخلی .
(۲) د دریو هیوادو نومونه واخلی چې له افغانستان سره ګډ سرحد لري .

۲ :- تقریري آزموینه : عبارت له هغه امتحان څخه دی چې ښوونکی له هرشاګرد څخه په شفاهي ډول پوښتنه کوي او شاګرد په شفاهي ډول په لنډه وخت کې ځواب ورکوي .

دا ډول امتحان یو ډول ښه او بد صفتونه لري . ښه صفت یې دادی چې د شاګردانو د شفاهي افادې قوه ، د تلفظ اصول او د کلماتو اداء کول معلوموي او نقصونه یې دادي :

۱ :- دغه آزموینه زیات وخت نیسي او له بلې خوا څخه څرنګه چې سوالونه په متحد شکل نه وي نو د شاګردانو د کارونو مقایسه یې مشکله وي .

۲ :- په دې آزموینه کې شاګردان د امتحان اخیستلو ترتاثیر لاندې راځي او د ځواب ورکولو په وخت کې یې فکر تیت او پاشان کیږي .

۳ :- امتحان اخیستونکی ستومانه کیږي او نشي کولای چې تر آخره پورې د شاګردانو څخه یو شان امتحان واخلي .

په تقریري امتحان کې اصلاحات :

که څه هم په دې وروستیو وختو کې د مقالوي تقریري امتحان اهمیت کم شوی دی خو نشو کولای چې بېخي یې له نظره څخه وغورځوو ، ځکه چې د ځینو مضامینو ارزیابي لکه قرآن کریم او داسې نور د تقریري امتحان څخه پرته ممکن نه وي (د حروفو تلفظ او اداء کول په مخرجونو کې) .

ددې لپاره چې د نوموړې آزموینې نواقص کم شي نو د تطبیق په وخت

کې باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي :
۱ : ــــ ښوونکی صاحب باید د تربیوي اهدافو په نظر کې نیولو سره ځېنې سوالونه په ګروپونو وویشي، او د شاګردانو څخه د هر ګروپ د سوال پوښتنه وکړي (سوالونه باید د قرعه کشۍ په واسطه وشي).
۲ : ــــ کله چېرې هدف د قرائت د اصول پیدا کول وي نو معلم صاحب باید یوه صفحه په ټولو شاګردانو ووایي او د ویلو په وخت کې باید ښوونکی د شاګردانو غلطي ولیکي او نمرې ورکړي .
۳ : ــــ د امتحان اخیستلو په وخت کې معلم صاحب باید ډېره صمیمانه رویه ولري ترڅو شاګردان ونه وېرېږي .
۴ : ــــ د نمرو ورکولو په وخت کې معلم صاحب باید د عدالت او انصاف څخه کار واخلي چې د اسلام د دین حکم هم دی .

دمقالوي آزموینې د استعمال ځایونه :

سره له دې چې د غه ډول آزموینه ځینې محدودیتونه لري، خو بیا هم د ارزیابۍ د سیستم په حیث په ځینو ځایو کې استعمالېږي .
۱ : ــــ څرنګه چې د مقالوي آزموینې سوالونه په لږ او کم وخت کې جوړېږي خو معلمین کولای شي چې په هفته واره او صنفي امتحانو کې ور څخه کار واخلي .
۲ : ــــ مقالوي امتحان په تخنیکي وسایلو پورې اړه نه لري، نو هغه مدرسې او ښوونځي چې د دیتو ماشین (   ) نلري لدې امتحان څخه کار اخلي .
۳ : ــــ د مقالوي امتحان د سوالونو جوړول په تجاربو پورې ډېره اړه نلري، نو هغه ښوونکي چې نوي مقرر شوي وي کار ور څخه اخلي .
۴ : ــــ کله چې د امتحان او ارزیابۍ هدف د املاء، انشاء او د ژبې د دستور معلومول وي پس مقالوي امتحان د اسې هدف ته د رسېدو ښه وسیله ده .

۵ : ـــ کله چیرې دامتحان ورکوونکو گروپ کوچنی وي او امتحان د وباره وانه خیستلی شي نو مقالوي امتحان دارزیابۍ ښه وسیله کیدای شي .

دیوه ښه مقالوي امتحان د جوړولو اصول :

۱ : ـــ دامتحان د جوړولو په وخت کې باید دیوې رهنما څخه کار واخیستل شي او هغه اعمال چې ارزیابي کېږي باید ښه روښانه نویس شي .

۲ : ـــ د مقالوي امتحان په جوړولو کې له دغو اصطلاحاتو څخه (مقایسه يې کړئ ، توضیح يې کړئ ، ارتباط ورکړئ ، تجزیه او تحلیل يې کړئ ، اختلاف يې ووایئ تشریح يې کړئ چې ولې ؟ څرنگه ؟ څېل دلایل ووایئ ؟) باید استفاده وکړي ، او د دې کلماتو څخه خود داري وکړي لکه څه وخت ، چیرته ، څه شی ، له کوم سره کوم شخص ؟ او ... ځکه د مقالوي آزموینې سوالونه د زده کړې د پیچلو نتایجو د ارزیابۍ لپاره په کار وړل کیږي .

۳ : ـــ کله چیرې هدف د امتحان څخه د شاگردانو د تحصیلي پېشرفت معلومول وي نو باید له دې کلماتو څخه (څه فکر کوئ ، پدې هکله ستاسو عقیده څه ده ؟ هر څه چې پوهېږئ ولیکئ ؟) جدا ځان وساتئ .

۴ : ـــ د امتحان جوړولو په وخت کې باید متوجه اوسئ چې د سوالونو او وخت ترمینځ یو تناسب موجود وي .

۵ : ـــ شاگردانو ته د مقالوي امتحان د سوالونو د جملې څخه د یوه سوال حل کولو لپاره د انتخاب چانس ورنه کړشي ځکه چې پدې صورت کې نشو کولای چې شاگردان له بل سره مقایسه کړو .

ب :- عیني او انتخابي امتحانات :

پدې ډول امتحان کې ځواب پخوا تعیین شوی وي ، شاگردان یا حل کوونکي

يواځې ترټولو صحيح ځواب د څوځوابو په مينځ کې انتخابوي ، پدې ډول امتحان کې ځواب په مختصر ډول ورکول کېږي او شاګرد ډېر زيات وخت په فکر کولو او لوستلو تېروي ددې امتحان کيفيت د امتحان د ترتيب کوونکي د مهارت په واسطه ټاکل کېږي .

نو موړی امتحان زيات انواع لري چې هر يو يې د زده کړې يو مخصوص سلوک ارزيابي کوي نولومړی بايد د هغه خصوصيات وپېژندل شي .

د عيني امتحان خصوصيات او صفتونه په لاندې ډول دي :

۱ : — په عيني امتحان کې هر سوال د يوه ځواب غوښتونکی وي .

۲ : — د عيني امتحان د سوالونو جوړول مشکل کار دی ، زيات وخت غواړي .

۳ : — د عيني امتحان سوالونه کولای شو په آسانۍ سره نمرې ورکړو .

۴ : — په عيني امتحان کې عدالت مراعات کېدای شي ، نو ډېر د اعتبار وړ دی .

۵ : — عيني امتحان د مختلفو معلوماتو لکه اصطلاحاتو ، تاريخچه او تمرينونو دارزيابي د پاره استعمالېږي .

۶ : — عيني امتحان معمولاً سطحي او ساده حقايق اندازه کوي .

۷ : — دا ډول امتحان د شاګردانو د درجه بندۍ لپاره نظر په معلوماتو ، فهم او فعاليتونو ډېر مفيد دی .

۸ : — د قياس او حدس وهلو عمل ددې امتحان په واسطه تشويق کېږي .

۹ : — د اضافي اشاراتو لکه تماماً ، هېڅکله ، معمولاً ، همېشه ، هېڅ يو او داسې نورو اجتناب کېږي .

۱۰ : — حاشيه روی محدود وي يعني اصل موضوع پرېښودل او له فرعي موضوعاتو سره ارتباط نيول محدود وي .

۱۱ : — د منفي جملاتو څخه خودداري کېږي .

۱۲ : — جمله بايد لنډه واضحه او روښانه وي .

۱ ـ شاګردلیدونکي : هغه ښوونکي چې شاګردان د فعالیت مرکزګڼي او د شاګردانو هراړخیزه وده ورته اهمیت لري داسې ښوونکي د وه ډلې دي :

الف ـ په انفرادي ډول شاګردلیدونکي :

دا ډول ښوونکو ته شاګردان د خپل اولاد په څېر ښکاري ، د هر یوه د استعداد ، ظرفیت او روحیې سره روښ دی وي او د شاګردانو د استعداد څخه بې ځایه او بېځایه توقع نه کوي ، د دغه ډول ښوونکو په ټولګي کې د کم استعداد خاوندان ګوښې ته کېږي او په زده کړه کې وده نه شي کولای .

ب ـ په مجموعي ډول شاګردلیدونکي :

دا ډله ښوونکي چې شاګردان په مجموعي ډول اساسي محور ګڼي ، هر فرد ته په ځانګړي ډول توجه نه کوي بلکه د ټولګي د ټولو شاګردانو په مختګ ته په کلي توګه اهمیت ورکوي ، له ټولو شاګردانو سره یوشان سلوک کوي او په صنف کې یې هیڅ کوم شاګرد نه ګوښې ته کېږي خو د ځانګړو استعدادونو د غوړېدنې لپاره د پره لړه زمینه برابروي .

۲ ـ درس په نظر کښې نیوونکي :

دا ډول ښوونکي درس ته زیات اهمیت ورکوي او شاګردان ورته دومره مقام نلري چې ترې بیوي مسایلو ته دومره متوجه نه وي ، د پرېدې یې ښکاره څرګندوي چې هرشان وي خپله شاګردانو ته درس ور انتقال کړي ، د دې ډول معلمان هم په دوه ګوچینو ډلو وېشل کېدای شي .

الف ـ په علمي لحاظ درس په نظر کې نیوونکي :

د دغه ډول معلمانو د معلوماتو ساحه ډېره پراخه وي او شاګردان سره جذبولای شي او غواړي چې خپل شاګردان هم په همدې لار روان کړي خو اخلاقي فضا یلو روزنې ته کومه توجه نلري چې داکار یې په شاګردانو نامطلوب اثر کوي ، که څه هم په تدریس کې د منا سبو کمکي وسایلو او په زړه

د آفاقي یا عیني امتحان اقسام:

آفاقي یا عیني امتحان په څلوره وله دی چې هر یو یې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نیسو:

۱:ــ صحیح او غلط امتحان:

معمولاً په دې امتحان کې داسې سوالونه مطرح کېږي چې له دوو حالتو (صحیح او غلط) څخه بر خالي نه وي، په بلی، نه یا (+) او (ــ) سره بیا نښېږي صحیح او غلط امتحان هغه وخت استعمالېږي چې هدف او مقصد استعداد معلوموول وي.

د صحیح او غلط امتحان ګټې او صفات:

۱:ــ د دې ډول امتحان مواد په آسانۍ سره پیدا کولای شو، او کولای شو چې د اشخاصو نوموونه ـ د ځایو نوموونه، تاریخي واقعو او اصطلاحاتو څخه کار واخیستل شي.

۲:ــ د سوالو نو جوړول یې لږ وخت ته ضرورت لري.

۳:ــ د سوالو د حل کولو په وخت کې د شاګردانو لږ وخت ضایع کېږي.

۴:ــ په پراخه پیمانه سره د مضمون د محتویاتو څخه نماینده ګي کولای شي.

۵:ــ په آسانۍ ورته نمره ورکول کېدای شي.

د صحیح او غلط سوالونو نواقص:

۱ــ د تربیوي هدفونو په اساس صحیح او غلط امتحان په ځانګړو موادو پورې

مربوط دی.

۲: ــ د پر مطالب نښتو کولای چې په صحیح او غلط امتحان کې بیان کړو (نو په دې اساس د پر جزوي او بې اهمیته کارونو ورباندې آزمایش کېږي).

۳: ــ صحیح او غلط امتحان غالباً مبهم او ګنګس کوونکی وي او یو شخص په ډېره سختۍ د هغه په مفهوم پوهېدلای شي.

۴: ــ د حدس (ګومان) وهلو احتمال پکښې زیات وي.

۵: ــ د ذهن فعالیتونه محدود وي، او د تفکر او قضاوت قدرت په کار نه اچوي.

د صحیح او غلط امتحان د تهیه کولو په وخت کې باید لاندې نقطې په نظر کې ولري:

۱: ــ سوالونه باید له دوو حالتو (صحیح او غلط) څخه خالي نه وي.

۲: ــ د صحیح او غلط سوالو تعداد باید سره مساوي وي.

۳: ــ داسې سوالونه چې عین سوال نیم صحیح او نیم غلط وي جوړ نه شي.

۴: ــ مجهولې او د پر ومعنی وولرونکې جملې پکې استعمال نه شي.

۵: ــ منفي عبارات او هغه جملې چې منفي په منفي کې وي استعمال نه شي.

۶: ــ د درسي کتابو عبارت او داسې جملې چې شاګردان په آسانۍ سره د هغې په مفهوم پوهېدای شي په سوال کې استعمال نه شي.

مثال: هدایت ــ لاندې سوالونه په ځیر سره ولولئ کوم سوال چې صحیح وي مخې ته یې (ص)، او کوم سوال چې غلط وي مخې ته یې (غ) توری ولیکئ.

(غ) ۱:ــ د استوا خط د ځمکې کره په دوه برخو وېشلې نده.

(ص) ۲:ــ زمونږ ګران هېواد افغانستان د آسیا په براعظم کې پروت دی.

۲ :- مقایسوي یا مقابلوي امتحان :

په دې امتحان کې سوالونه په دوه ستونونو کې داسې تهیه کیږي چې یو ستون یې د سوالونو او بل یې د ځوابونو ستون بولي .
مثال : هدایت - لاندې دوه ستونه مشاهده کړی د لومړي ستون د هرې پوښتنې لپاره په دوهم ستون کې یو ځواب شته ، د مربوطه ځواب حرف د سوال په څنګ کې ولیکه .

د سوال ستون	د ځواب ستون
(هـ) ۱- خدای (ج)	الف - زمونږ دین دی .
(ج) ۲- حضرت محمّد (ص)	ب - قرآن کریم .
(الف) ۳- اسلام	ج - د الله (ج) رسول دی .
(د) ۴- افغانستان	د - زمونږ وطن دی .
	هـ - یو دی شریک ـــــ لري .

په دې ډول امتحان کې باید د ځواب د ستون تعداد د سوالونو د ستون له تعداد څخه زیات وي .

د مقابلوي امتحان ګټې :

۱ :- د مقابلوي امتحان یوه ګټه نظر خو ځوابه ته داده چې سوالونه یې کم ځای نیسي او د څو ځوابه امتحان سوالونه ډېر ځای نیسي
۲ :- بله داچې مقابلوي امتحان سوالونه فشرده کوي (نښلېږي) ، او په کم او لږ وخت کې زیات حقیقي مواد اندازه کوي .
۳ :- مقابلوي سوالونه په آسانۍ جوړېږي .

۳:- انتخابي يا څوځوابه امتحان:

څوځوابه امتحان دوه برخې لري چې يوې ته يې ساقه بلې ته يې دځوابونو برخه وايي.

څوځوابه ديوه صحيح او څو غلطو ځوابو لرونکي وي چې د منحرف کوونکو په نوم ياديږي.

د منحرف کوونکو وظيفه داده چې هغه شاګردان چې د سوال په صحيح ځواب نه پوهيږي منحرف يې کړي. د يوه سوال د ځوابونو تعداد کېدای شي چې (۴) يا (۵) وي، که چېرې د ځوابونو تعداد زيات وي نو غلطوالی يې ژر معلوميږي، نو پدې اساس بايد د هر سوال لپاره (۳) يا (۴) ځوابه تعيين شي.

څوځوابه امتحان مختلف اقسام لري چې يو څو يې په لاندې ډول بيانيږي:

ا:- بهترين ځوابه :- په دې صورت کې ممکن ټو ځوابونه صحيح وي خو يو يې بهتر وي چې شاګرد بايد هغه انتخاب کړي.

مثال: هدايت - لاندې سوالو ته ځو ځوابه ورکړشوي دي، تر ټولو صحيح ځواب څخه يې دايره تاوه کړی.

ا:- کوم يو د لاندې موادو څخه د انسان د وجود د رشد لپاره ډېر ضرور دی:

الف: پروټين ب: ويتامين ج: شحميات د: کاربوهايدريت

۲:- منفي ډول يې: هدايت - په لاندې څلورو ځوابو کې يو غلط دی هغه يې تعيين کړی.

د افغانستان مشهور دريابونه عبارت دي له:

الف: هلمند ب: آمو ج: بلخ د: هريرود

۳: ـــ نامکمل ډول يي: هدايت ـــ د هر سوال لپاره څلور ځوابونه ورکړ شوي دي صحيح ځواب تعيين کړی.

مثال: $\frac{1}{12} + \frac{3}{4} = ?$ الف: $\frac{11}{12}$، ب: $\frac{8}{12}$، ج: $\frac{1}{12}$، د: $\frac{7}{13}$

د څو ځوابه امتحان نواقص:

۱: ـــ غالباً له يوه يا دوه ځوابه څخه زيات صحيح وي.

۲: ـــ د سوالو ځوابونه شاگردان رهنمايي کوي.

د څو ځوابه امتحان د جوړولو قوانين:

۱: ـــ هر سوال بايد داسې جوړ شي چې د زده کړې يو محصول اندازه کړي.

۲: ـــ د سوال په ساقه کې سوال بايد واضح شي.

۳: ـــ د امکان تر حده پورې د امتحان سختوالی د (سوال، په ساقه کې ځای شي.

۴: ـــ د سوال ساقه تر ممکنه حده پورې بايد مثبته وي.

۵: ـــ د سوال ساقه بايد په يوه ساده ژبه وليکل شي.

۶: ـــ د لغاتو د استعمال څخه بايد خودداري وشي.

۷: ـــ منحرف کوونکي بايد د شاگردانو لپاره د پر جذاب وي.

۴: ـــ خانه خالي امتحان:

هغه امتحان دی چې د امتحان ورکوونکي څخه ددې تقاضا کېږي چې تش ځايونه ډک کړي، نه دا چې ځواب انتخاب کړي، او دغه خالي خانې کېدای شي چې د سوال په سر، مينځ يا آخر کې واقع شي.

مثال: هدایت ــ دالاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړی.

۱: ــ د ټولو ادیانو کاملترین دین ــــــــ دی.

۲: ــ ــــــ ــــــ د افغانستان غربي گاونډی دی.

۳: ــ زموږ وطن د ــــــــ په وخت کې په افغانستان مسمیٰ شو.

په پوره تشو ځایونو کې ترټولو مناسبې کلمې چې کامله جمله ورځخه جوړه شي عبارت دي له:

اسلام ایران او احمدشاه بابا

پښ اله دي چې یو امتحان جوړ کړو، پر ځه شیانو باید فکر وکړو؟

هر ښوونکی د یو امتحان له جوړولو څخه مخکې باید په لاندې ډول پوښتنې له ځانه سره مطرح کړي او د هغو د ځوابولو په رڼا کې بیا امتحان جوړ کړي.

I ــ هدف: د څه شي امتحان اخلم؟ ولې امتحان اخلم؟ څنگه باید نمرې ورکړم؟ د کتاب له کومې برخې او له کومو شیانو (موضوعاتو) څخه امتحان اخلم؟.

وروسته له دې چې د امتحان هدف مو تعیین کړ باید موضوع هم انتخاب شي.

II ــ موضوع:

د څه شیانو څخه غواړې چې امتحان واخلې؟

د مثال په ډول د پښتو د مضمون د څلورنیم میاشتنی آزموینه چې په هغه کې الفبا د شکل، آواز، نوم او لیکل)، نیم حروف او د حروفو ترکیب، لغاتونه او له کتاب څخه پنځلس درسونه هم ویلي شوي دي.

الف: په الفبا کې یوه میاشت او په نیم حروفو او ترکیب کې یې نیمه میاشت لغاتونه، نیمه میاشت او (۱۵) درسونه له کتاب څخه په دوه میاشتو کې ویل شوي دي.

ب :ـ وروسته فیصدي نیسو چي په څومره وخت کي چي موهره موضوع لوستلي وي د هغې د فیصدۍ له مخې د سوالونو د فیصدي تعیین کوو داسې چې ۵۰٪ سوالونه د (۱۵) د رسولو څخه ، ۱۲،۵٪ سوالونه د نیم حروفو او ترکیب څخه ۱۲،۵٪ سوالونه د لغاتونو څخه او ۲۵٪ سوالونه د الفبا څخه باید جوړ شي.

III- د سوالونو څرنګوالی :

له دې څخه وروسته سوالونه لیکو او داسې د ځان څخه پوښتنه کوو چې په کومه موضوع کي کوم ډول سوالونه راتلای شي چي صحیح جوړ شي ؟ مثلاً څوځوابه سوالونه په الفبا کي صحیح او غلط په نیمه حروفو کې متقابل (مقابلوي) سوالونه په ترکیب کې خانه خالي په جملو کي تحریري او تقریري د کتاب په متن کې .

۱ :ـ باید فکر وکړو چې ماشین او نور وسایل لرو او که نه چي دا ډول امتحان جوړ کړو، او هم د نورو ورکولو وخت په نظر کې نیسو .

۲ :ـ زموږ سوالونه باید څرنګه وي او څه شی اندازه کوي ؟

۱ :ـ آیا یوازې د شاګرد د علمیت درجه اندازه کوي ؟

۲ :ـ آیا د ویلو او لیکلو مهارت اندازه کوي ؟

۳ :ـ آیا د فکر کولو درجه یې معلوموي ؟ (مثلاً په یوه کلمه کي د حروفو موجودیت لکه بوټ) .

IV- د سوالونو لیکل :

اوس د امتحان د سوالونو په لیکلو شروع کوو :

الف :ـ باید داسې فکر وشي چې هر سوال د بل سوال څخه ځانګړی وي یعني داسې نه چې که یو سوال د شاګرد زده نه وي نو د وهم سوال ارومرو نشي حل کولای

يعني سوالونه يو په بل پورې مربوط نه وي .
ب :- سوال باید په ډېر ساده او آسانه شکل وليکل شي ، کله چې شاګرد هغه
لولي په مفهوم يې وپوهېږي .
ج :- باید هر ډول سوال (آسان ، متوسط ، او مشکل) ولرو .
د :- کله موچې امتحان وليکو بيه ورځ يې پرېږدو او بله ورځ ښه فکر
ورباندې کوو او ښه اصلاحات پکې راولو .
هـ :- که د سوال هره برخه هدايت لري ، باید هغه روښانه وي .
و :- کله چې دامتحان سوالونه جوړ شي ، باید د سوالو کلي جوړه کړې او هم
د هر سوال نمرې باید پخوا د موضوعاتو د وخت د فيصدۍ له مخې تعيين
شي .
ز :- چك لست : هغه څه چې ښوونکي ېې دامتحان د ليکلو څخه وروسته
له ځيلځان څخه وپوښتي
۱ :- څوك ارزيابي کوم ؟
۲ :- څه شی ارزيابي کوم ؟
۳ :- څه قسم (علم ، کار او د هغه فعاليت) ارزيابي کوم ؟
۴ :- کوم سوالونه مې چې استعمال کړي ، زما د هدف سره ارتباط لري او که
بنه ؟
۵ :- آيا د هر شاګرد څخه په عين موضوعاتوکې امتحان اخلم (بايد ثابت او مساوي وي) ؟
۶ :- دا امتحان موچې جوړ کړی دی د لوستل شوي پروګرام سره مساوي او
برابر دی ؟
۷ :- آيا دا امتحان مو يوازې له هغو مشکلو او سختو سوالونو څخه تيار کړی
دی ، که يوازې د آسانو سوالونو څخه دی ، او که له هر ډول څخه ؟
۸ :- آيا شاګردان مو ښه وخت لري چې دامتحان سوالونه پکې حل کړي ؟
۹ :- آيا کافي مواد لرو چې امتحان جوړ کړو ؟

۱۰ :- په دې ډول امتحان کې څه مشکلات لرو (مواد، صنف او نور مناسب دي).
۱۱ :- آیا ښوونکې په خوا درس ورکړی چې دا ډول امتحان اخلي ؟
۱۲ :- آیا شاګردان د امتحان څخه خبر دی ؟
۱۳ :- آیا شاګردان په دې پوهیږي چې معلم څه ډول امتحان اخلي (د امتحان له نوعیت او سوالونو سره په خوا اخلي آشنایي لري) ؟
۱۴ :- هغه نمرې چې شاګردان یې اخلي د هغوی په راتلونکي ژوند باندې څه تاثیر لري ؟

۲:- ارزيابي:

تعريف:- ارزيابي د درس وركولو او زده كړې د عمليې د پلان شوو ټاكل شوو نتيجو او په واقعي ډول لاس ته راغلو نتيجو ترمينځ يو ډول مقايسه ده.

د هغې په واسطه د تربيتي روزونو او يا د زده كوونكو د درجې د موقعيت په هكله قضاوت كېږي او د كار او فعاليت د پرمختګ معلومات كوي.

تربيوي ارزيابي دوه غوره هدفونه لري:

۱:- تربيوي ارزيابي د ښوونكو (مربيونو) سره مرسته كوي ترڅو وپوهېږي چې تعليمي اهداف تر كومه حده لاسته راغلي دي.

۲:- تربيوي ارزيابي د مربيونو سره مرسته كوي چې شاګردان وپېژني.

لومړى هدف د تربيوي ارزيابي اصلي او اساسي هدف دى چې د شاګردانو په سلوك كې تغير (بدلون) د تعليمي اهدافو په حيث قبلوي او هغه ارزيابي كوي.

حقيقتاً كه يو ښوونكى د خپلو شاګردانو په باره كې جامع او مكمل معلومات ولري هغه په آسانۍ كولاى شي معلومه كړي چې تعليمي اهداف تر كومه حده لاسته راغلي دي.

د ارزيابۍ مشخصات:

۱:- ارزيابي د افرادو د كار او فعاليت پرمختګ معلوموي.

۲:- ارزيابي د ښوونې او زده كړې د عملي جز شمېرل كېږي.

۳:- ارزيابي د تعليمي كال په اوږدو كې خوځښت برته له كومې ځنډېنۍ خبرتيا او وخت معلومولو څخه سرته رسېږي.

پوره طریقه خضر کار اخلي .

ب ـ د فلسفي لحاظه درس په نظر کې نیونکي :

دا معلمان هم درس ته زیاته توجه لري او د ژوند انه په فلسفي او نورو تولنیزو مسایلو پورې مربوط اړخونه څېړي، خو د شاګردانو اخلاقي روزنې ته پام نه لري .

فکر مسایل مطرح کوي او په فلسفي مسایلو کې شاګردان فکر کولو ته هڅوي او له دې کبله شاګردان د مقناطیس په څېر ځان ته راجذبوي او شاګردان یې هڅه کوي چې سلوک د دغه ډول ښوونکو په څېر جوړ او خپل شخصیت ور باندې ودان کړي .

د ښوونکو بل ډول ویش :

په تیر و طبقه بندیو کې مو معلم د درس او شاګرد په ارتباط وڅېړه او س یې د خپل سلوک سره په رابطه څېړنه کوو په دې معنی چې معلم امکان لري یو له خاورو ذکر شو یو خواص څخه ولري او په عین حال کې په لاندې ویش کې هم راشي .

ا ـ اقتدار پلټونکی معلم : یوه معلمان درس او شاګرد ته په توجه کولو برسیره غواړي چې شاګردانو ته ځان توانمن ښکاره کړي او په دوه ډوله دي :

الف : مثبت اقتدار پلټونکي ـ یوه بله ډله معلمان داسې هم شته چې خپل حاکمیت چلول غواړي خو شاګردان ترې نا وړه اخلاقي زده کړه نه کوي بلکه د هغوی په زړونو کې ځای نیسي او د سلوک څخه یې د نمونې

۴ :ـــ ارزيابي کوم رسمي اړخ نه لري اوغيررسمي عمل ده .
۵ :ـــ ارزيابي کېدونکي شاگردان دارزيابۍ لپاره کومه تياري نه نيسي او نه ترې دناکاميدو وېره لري .
۶ :ـــ دارزيابۍ په واسطه ښوونکی د زده کوونکو دهرډول خصوصيا تو څخه خبرېدای شي .
۷ :ـــ ښوونکی کولای شي دارزيابۍ په اساس خپل زده کوونکي په گروپونو ووېشي .
۸ :ـــ ښوونکی دارزيابۍ په اساس دزده کوونکو دشوق ، علاقې ، دلچسپۍ اواستعداد سره سم دکاراوفعاليت زمينه برابرولی شي .
۹ :ـــ دارزيابۍ دنتايجو په اساس دشاگردانو د جسمي ودې اوذهني غوړېدنې سره سم تربيتي پروگرام ترتيب کېدای شي .
۱۰ :ـــ څرنگه چې ارزيابي دتعليمي کال په اوږدوکې په پرله پسې توگه بشپړه کوي ، نو مخصوص صنفي ټسټونه دپروگرام اوارزيابۍ کوچنی جز تشکيلوي .

د ازموینې او ارزیابۍ ترمینځ توپیر

ازموینه

(نتیجوي ارزیابي)

۱ـ ازموینه یو رسمي عمل دی.

۲ـ ازموینه د تربیتي روښونو یو پړاو او حالت دی چې پرکال کښې دوه یا درې ځلې د هیئت ترڅارنې لاندې سرته رسیږي.

۳ـ ازموینه یو غیر متداوم کار دی.

۴ـ په آزموینه کې ویره شته.

۵ـ امتحان نمرې او درجه بندي لري.

۶ـ ازموینه کامیابي او ناکامي لري

۷ـ ازموینه د اندازه ګیرۍ هغه وسیله ده چې راپورونې د کمیت او مقدار په شکل وړاندې کیږي.

۸ـ ازموینه محض د یو چا موقف تعینوي.

۹ـ ازموینه نتایج د مخکینو معیارونو سره نه مقایسه کوي.

۱۰ـ ازموینه خاص مفهوم لري.

ارزیابي

(جوړوونکې ارزیابي)

۱ـ ارزیابي غیر رسمي کار دی.

۲ـ ارزیابي د تربیتي روښونو یو جز دی چې پرته له مخکینۍ خبرتیا هره شیبه کیدای شي.

۳ـ ارزیابي یو متداوم عمل دی.

۴ـ په ارزیابۍ کې ویره نه وي.

۵ـ ارزیابي درجه بندي لري خو نمرې نلري.

۶ـ ارزیابي کامیابي او ناکامي نلري.

۷ـ ارزیابي هغه وسیله ده چې راپور یې د کمیت او کیفیت له مخې وړاندې کیږي.

۸ـ ارزیابي جامع مفهوم لري چې د یو ګروپ موقف تعینوي.

۹ـ په ارزیابۍ کښې نتایج په توصیفي ډول بیانیږي او د مخکینو معیارونو سره مقایسه کیږي.

۱۰ـ د ارزیابۍ مفهوم جامع او وسیع دی.

والسلام

B
6.407
MAN
1240

Afghanistan Education Committee

Associated With The Swedish Committee

Teachers Training Seminar

Year 1991

مؤخذ :

۱- قرآن عظیم الشان او نبوي احادیث .
۲- آی ، آر ، سي هنگو سمینار .
۳- الوکالة الاسلامیة (کورس تدریب المعلمین) .
۴- جرمن افغانستان فونډیشن (کورس تعلیمات عالی نظارت) .
۵- رهنمای مدرس اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان .
۶- مواد تعلیمي کمیتهٔ تعلیم وتربیهٔ افغانستان
۷- مربی کیست چاپ ایران .

په توګه کار اخلي دوی د شاګردانو روحیه سنه پیژني، د زور څخه کار نه اخلي، په درس کې جدي وي، او د تدریس د طریقو په جزئیاتو پوهیږي او خپل سلوک ته یې تل پام وي، د شاګردانو سره مینه لري او هرچاته یې د شان احترام قایل وي.

ب ـ منفي اقتدار پلټونکی: په دې ډله کې هغه ښوونکي راځي چې تل تریو، تریخ، قهرجن تسلط طلب او وداړن وي چې شاګردان ترې همېشه کرکه لري او دی ګمان کوي چې د دوی څو کاکو احکامو په صادرولو سره یې د په عوره طریقه نیولې ده، د پرزیات غږ پېږي او په صنف کښې یې یوه بې روح فضا واکمنه کړې وي.

۲ ـ رفاقت طلب معلم:

یو شمېر ښوونکي د یادې شوې ډلې پرخلاف اقتدار طلبه نه وي او هڅه کوي چې د شاګردانو سره دوستي او رفاقت جوړ کړي چې په لاندې دوه ډلو کې یې څېړو:

الف: منفي رفاقت طلبه: ځینې ښوونکي داسې وي چې له هر ځای نه پاتې او په بل هیڅ کوم کسب او کار کښې ورته د بریالیتوب امید نه وي، نو مدرسي، درس او شاګردانو ته ورځي او د دغه مسئولیت نه د یک مقام د نیولو لپاره د ضروري کفایت د نشتوالي له امله د پرې ناوړه طریقې په کار وړي، تر څو کولای شي چې خپل ژوند تأمین کړي.
په عمومي ډول د ښوونې او روزنې د دا ډول چلونکي ښکاره نه توني زیاتره په لمړنیو او منځنیو او کله کله په ثانوي ښوونځیو کې موندل کېدای شي.

دا ښوونکي پخپل کار باندې نه کوم هدف مرتب کښي او نه په تدریس کې کوم پلان او روش لري چې پلان نه درلودل او د وخت اړول یې له ښوونو ښنا نو څخه دي.

ب - مثبت رفاقت طلب ښوونکی :

د منفي رفاقت طلبو ډلې پر خلاف هغه معلمان چې پدې ډله کښې راځي هم د درس نګرو او هم محصل نګرو معلمانو خصوصیتونه لري، دا ډول ښوونکي په عین حال کښې چې رفاقت طلبه دي دا هڅه هم کوي چې شاګردان په هره ول کې و وېرو لو ره تګ څخه منع کوي، دخپل درس په موضوع کښې زیاته مطالعه کوي، د درس د موضوع په خرګندولو کښې هم ډېر ښه روش لري او د مطلب د خرګندولو په فنونو او ونا ز کیو پوهیږي او شاګردانو ته دا فرصت نه ورکوي چې د ده له ښه سلوک او نرم چلند څخه ناوړه استفاده وکړي.


ښوونکی (معلم)
د درس له نقطې نظره
د سلوک له نقطې نظره
شاګرد په نظر کې نیوونکی
درس په نظر کې نیوونکی
اقتدار پلټونکی
رفاقت پلټونکی
یو شاګرد لیدونکی (فردي)
ټول شاګردان لیدونکی (جمعي)
په علمي لحاظ
په فلسفي لحاظ
مثبت رفاقت پلټونکی
منفي رفاقت پلټونکی
مثبت اقتدار پلټونکی
منفي اقتدار پلټونکی

د ښوونکي صفات

I : د تدریس په موضوع حاکمیت :

ښوونکی دې هله د معلمۍ ذمه واری ته غاړه کېږدي چې د و ر سپارل شوي کار (تدریس) د عهدې نه ووتلی شي ، پوهېږو چې د ښوونکي کار د ټولنې افرادو ته د مفاهیمو ، مفکورو او معلوماتو انتقال دی - چې دا کار په موضوع باندې د ښوونکي د پوره بلدیت او حاکمیت ایجاب کوي ځکه که ښوونکی پخپله د یوې موضوع په حدود او محتوی پوره بلد نه وي څنګه کولای شي هغه نورو ته په لازمه توګه انتقال کړي ؟ .

د تدریس د عملیې ضروري حد افهام او تفهیم دی ، یعنې د بحث لاندې موضوع باندې لومړی د ځان پوهول ، بیا د نورو پوهول ، چې پدې هکله د ښوونکي ضروریات درې شیان دي :

الف - کافي معلومات ب - مسلکي مهارتونه ج - هدفمند ذهنیت

الف - د بحث لاندې موضوع په باب معلومات د ښوونکي د بلدتیا څخه عبارت دی ، یعنې دا چې ښوونکی د موضوع په ارتباط کافي اطلاعات ، شواهد او مدارک لري او که نه - او یا دا چې ښوونکي د افهام عملیه بشپړه کړې او که نه ؟ .

ب - مهارتونه د ښوونکي د شخصیت دا اړخ تشکیلوي چې آیا ښوونکی کولای شي چې دا معلومات زده کوونکو ته په صحیح ډول انتقال کړي که نه ؟.

یعنې دا چې خپله پوهه او معلومات په صحیح توګه تطبیقولای شي که نه ؟ تر څو زده کوونکو لپاره د زیاتې استفادې زمینه برابره شي .

ج - هدفمند ذهنیت (دوظیفې ، درسي مواد او زده کوونکو په وړاندې د ښوونکي برخورد ته ویل کېږي) .

II : د تعلیمي اهدافو تعقیبول :

پوهه خو په عام ډول د هر انسان او د هرې ټولنې عام ضرورت دی خو دا چې د ټولو ټولنو اجتماعي جوړښت، ضرورتونه او غوښتنې یو ډول نه وي، نو د هغوی تعلیمي نصاب او غوښتنې هم یو له بله فرق کوي.

د هرې ټولنې د ښوونې او روزنې مسئول اشخاص د ټولو نه اول د خپلې جامعې ضرورتونه او احتیاجات په ګوته کوي او بیا د دې ضرورتونو په بنیاد تعلیمي اهداف ټاکي، د دې اهدافو له مخې تعلیمي پروګرام برابروي او د دې پروګرام د تطبیق لپاره هڅه کوي ترڅو په ګوته شوي مشکلات حل شي.

ښوونکی باید د خپل مضمون او خپل تعلیمي نصاب په اهدافو پوه وي او هغه په پابندۍ سره تعقیب کړي، که ښوونکی د دې اصل ته متوجه نه وي نو په کار کښې یې نیمګړتیاوې مینځ ته راځي.

دافغانستان په اسلامي ټولنکې ښوونکی باید لاندیني هدفونه تعقیب کړي:

۱ ــ د شاګردانو په ژوند او سلوک کې مثبت اسلامي تغیر راوستل.

۲ ــ شاګردان د افغانستان د اسلامي ټولنې د غوښتنو سره سم صالح تربیه کول.

۳ ــ شاګردانو ته د دین، وطن او خپلې اسلامي ټولنې سره د مینې (محبت) او خدمت روحیه ورکول.

۴ ــ د ښوونځي (مدرسې) له مقرراتو او چاپیریال سره د شاګردانو آشناکول.

۵ ــ شاګردانو ته د هغوی د کلي، کورنۍ، ټولنې او ټول اسلامي امت په ګټه سالمه تربیه ورکول ترڅو په راتلونکې کې هم د کلي او هم په ټولنیزه او نړیواله سطحه ګټور ثابت شي او د چا د اوږو بار نه شي.

۲ ــ د شاګردانو جسمي، ذهني، اخلاقي او روحاني قواوو ته د ودې ورکولو زمينه برابرول.

III : د شاګردانو سره مينه او پرهغو زړه سوی :

ښوونکی د تربيتي مفاهيمو دانتقال دیوې ميخانيکي وسيلې (کتاب، اخبار، راديو، تلويزيون او داسې نورو) سره فرق لري. انسان له دې يا د شويو وسايلو نه هم زده کړه کولای شي خو دا شيان د زده کوونکو سره هغه رابطه نشي ټينګولای - کومه چې د ښوونکي او زده کوونکي ترمينځ شته، د قرآن کريم دا آيت شريف په نظر کې نيسو:

اُدْعُ اِلٰی سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ

جَادِلْهُمْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ط

(۱۲۵ آيت سورة النحل)

ترجمه : دعوت کوه ای محمد صلی الله عليه وسلم خلك لیارې د رب خپل ته چې توحيد او اسلام دی په حکمت، پند او وعظ نيك سره او مباحثه او خبرې کوه له دوی سره په هغې طريقه چې هغه د ډېره ښه او غوره وي.

حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايي :

لِيْنُوْا لِمَنْ تُعَلِّمُوْنَ وَلِمَنْ تَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُ

ترجمه : نرم او ملايم اوسئ په هغه چا چې تعليم ورکوئ او د هغه چا سره چې درس ورځخه واخلئ.

همدارنګه بل ځای فرمائي :

لَا یُؤمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیْهِ مَا یُحِبُّ لِنَفْسِهٖ

ترجمه : ندئ مؤمن هغه څوک چې خوښ نه کړي هغه څه د بل مؤمن ورور لپاره کوم چې دی يې ځان ته خوښوي .

نو ښوونکی باید خپل شاګردان د علم او پوهې، کسب ته علاقمند کړي ځکه چې شاګرد د معلم کشر ورور دی حتیٰ د ښوونکي د اولاد پر ځای دی ځکه چې د نورو پیوند وخته روحي او معنوي پیوند دهتر او محکم دئ .

کله چې شاګرد صنف ته د درس او زده کړې لپاره راځي، نو خپلې آرزوګانې، امید ونه او آینده رژوند د ښوونکي په اختیار کې ورکوي، نو تر ټولو د وستانو ورته معلم د ډېر دوست دئ . نو ښوونکی باید د زده کوونکو سره مینه، لورینه دلسوزي او مهرباني ولري .

IV : دځان ارزيابي :

د ښوونکي وظیفه د افهام او تفهیم یوه دوامداره عملیه ده، ښوونکی همېشه دې ته اړ دی چې ځان و پوهوي، تر څو د نورو پوهول ورته ممکن شي .

د خپل کار اغېزمن توب به سنجوي او د ځان په باب به د زده کوونکو نظر معلوموي .

اوس نو لازمه ده چې هغو ښوونکو ته په کلي ډول نظر وا چوو چې لږ او ډېر مونږ د تحصیل او وظيفې په جریان کې ور سره مخامخ یو .

V :- الف : د سلوك په ارتباط :

۱ - ښه ښوونكى د اسلامي علومو په رڼا کې د پوره پوهې، ښه خوى، صبر او حوصلې خښتن وي، غرور او کبر نلري، طامع او حريص نه وي.

۲ - ښه ښوونكى د زده کوونکو او چاپېريال د اوسېدونکو سره د مهرباني خواخوږۍ او مرستې کولو په وسيله محبوبيت پيدا کوي او په اسلامي ګانه او پسول (د بڼې، لباس، نظافت) سمبال وي.

۳ - ښه ښوونكى د زده کوونکو سره د درس، د ښوونځي د نورو استادانو او اداره چيانو سره د ښوونځي د ستونزو په حلولو کې په ګډه زيار باسي او د خپل مسلك سره د مينې او علاقې لرلو په ترڅ کې د ابتكار (د نوښت) توان لري.

۴ - ښه ښوونكى د ښوونځي په اداري اصولو او په خپله ورسپارل شوې وظيفه پابندي لري، د وخت د ضياع مخنيوى کوي او په تدريس کې د ورځنۍ موضوع او مضمون پورې اړوند لګښت نه کوي.

۵ - ښه ښوونكى هڅه کوي چې په وخت کې زده کوونکو ته سلام اچوي، د احوال پوښتنه يې کوي، د هغو د اوليأو سره تماس نيسي او د خداى جل جلاله د رضا په منظور خپل شاګردان د اسلامي شريعت د غوښتنو سره سم روزي.

۶ - ښه ښوونكى د يند اره وي او تل هڅه کوي چې او دس ولري او درس په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ويلو پيل کړي.

ب - د درس په ارتباط :

۱ - ښه ښوونكى په منا سبو درسي موادو، اصولو، سپېڅلي هدف،

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه :

نَحمَدُهُ وَنُصَلِّي عَلَى رَسُولِهِ الكَرِيمِ اَمَّا بَعدُ :

د افغانستان د مسلمان ولس ټولو جهادي ځواکونو او بېلابېلو مؤسسو د افغانستان د نوي او ځوان نسل د ښوونې او روزنې په چارو کې یو لړ خدمتونه سرته رسولي دي.

هرچا په دې لار کې په خپل وار سره د زړه له کومې زیار ایستلی دی او څو کاله راپه دې خوا د کمونېزم په اورسوی او رنګ شوی تعلیمي نظام یې بیا له سره تر دوا ئولو لاندې نیولی دی چې په دې لړ کې د افغانستان د تعلیم او تربیې کمېټې هم خپل کار له "۱۳۶۲" هـ.ش کال راهیسې پیل کړی او تر اوسه پورې یې د افغانستان په (۲۱) بېلا بېلو ولایتونو کې تقریباً (۵۰۰) لومړنۍ ښوونځي فعال کړي دي چې (۲۷۰۰) ښوونکي پکښې تقریباً (۸۵۰۰۰) ماشومانو ته ښوونه کوي او اخلاقي روزنې ته یې پوره پام ساتي.

خوشبختانه چې د خونړي کمونېزم له لاسه د افغانستان ټول مسلمان ولس په عام ډول او د ښوونکو طبقې په خاصه توګه زیان موندلی او بې شمېره ښوونکي د خپل دین او هېواد په مینه قرباني شوي دي، ځکه چې یو شمېر یې په ژوندوني تري تم شول او زیات یې شهیدان شول او د جهاد د دوام او پرمخ بېولو د ضرورت له امله یو شمېر له خپلو اصلي وظیفو نه لاس په سر شول او د ښوونې او روزنې د رنګ شوي نظام د بیا ودانولو لپاره یو تعداد غیر مسلکي کسان د ښوونې او روزنې د چارو پرمخ بیولو لپاره وګمارل شول.

درسي پلان او پوره تیاري لرلو سره خپل شاګردان د زده کړې او ښوونځي سره مینه ناک ساتي او د تدریس په وخت کې د موضوع څخه بې ځایه لرې نه ځي .

۲ ـ ښه ښوونکی خپل زده کوونکي د ټولګي او ښوونځي نظم ساتلو او په درس کې برخې اخیستلو ته هڅوي او د درسي موادو په استعمالولو بې روږدي کوي .

۳ ـ ښه ښوونکی د زده کوونکو سره په ساده محیطي ژبه او د هغوی د علاقې او سویې سره سم په مناسب آواز غږېږي .

۴ ـ ښه ښوونکی د خپلو شاګردانو د سویې او مشکلاتو څخه ځان خبر ساتي او د فردي اختلافاتو په پام کې لرلو سره هر شاګرد ته د ژوند په ارتباط داسې حقیقي او صحیح تدریس کوي چې په ورځني ژوند کې ښې ګټورې او د تعلیم تر څنګ یې تربیوي اړخ ته هم پام لري .

۵ ـ ښه ښوونکی خپل ټول شاګردان فعال ساتي ، ټولنیزې اړیکې ارزښتناکې ګڼي ، هر شاګرد ته ځیر وي ، نامطلوب الفاظ نه استعمالوي ، او دین ، ناموس او وطن څخه د ماهرانه دفاع په خاطر په زده کوونکو کې د جهاد روحیه راژوندۍ کوي .

دویم فصل

هدف او پلان

تعریف: هدف په لغت کښې نښې ، مقصد ، مرام او مرجع ته وایي او په اصطلاح کښې عبارت له هغه عامل او محرك (انگېزې) له نتیجې څخه دی چې انسان د یوه سلسله منظمو عملیاتو د اجرا لپاره هڅوي . یا دا چې د یوه کار څخه کښې سنجول شوې نتیجې ته هدف وائي . یا هدف د یوه ترمخه وضع شوي متوقعه سلوك څخه عبارت دی چې د حاصلېدو ، مشاهده کېدو او پیمایش کېدو (اندازه کېدو) وړ وي .

د هدف اقسام د څرنگوالی (ماهیت) په لحاظ:

د ماهیت له نظره اهداف په دوه ډوله دي :

۱ ـ مشروع اهداف ۲ ـ غیرمشروع اهداف ،

۱ ـ مشروع اهداف ـ هغه هدفونه دي چې په اسلامي نتائجو باندې منتج کېږي لکه اسلامي مقدس اهداف چې د الله جل جلاله د رضا حاصلول یکښې هدف وي .

۲ ـ غیر مشروع اهداف ـ هغه هدفونه دي چې په غیر اسلامي ـ غیر انساني ، شیطاني او بشري ضد نتائجو باندې منتج کېږي او مرام یکښې یوازې د مادیاتو حاصلول ، د اشخاصو راضي ساتل ، او د مادي او نفساني خواهشاتو اشباع او پوره کول وي .

په انساني ټولنو کښې د مختلفو اهدافو د لاسته راوړلو په خاطر ډول ډول عملیات او فعالیتونه سرته رسېږي. چې د هغوله جملې څخه یوه هم د تعلیم او تربیې عملیه ده. ځکه چې ښوونه او روزنه د انساني ټولنې یوه عامه غوښتنه ده او انسان ته تعلیم د غذا په څېر ضروري دی (تعلیم اسلامي فریضه ده) او زمونږ د بحث موضوع هم ښوونه او روزنه ده نو ځکه د تعلیمي اهدافو په باره کې بحث کوو.

تعلیمي اهداف د وسعت له لحاظه په درې ډوله دي:

۱ـ خصوصي اهداف ۲ـ عمومي اهداف ۳ـ نهائي اهداف

۱ ـ نهائي اهداف ـ دیوه پلان شوي کار اخرینې نتیجې ته نهائي هدف وائي لکه د اسلامي تعلیم او تربیې نهائي هدف دا دی چې یوه سالمه اسلامي ټولنه تشکیل شي او د سالمې اسلامي ټولنې د تشکیل لپاره د سالمو افرادو تربیه کول په کار دي ترڅو بالاخره د خدای جل جلاله د رضا حاصلول (نهائي هدف) ترلاسه شي.

۲ ـ عمومي اهداف ـ د یوه پلان شوي کار په نظر کښې نیول شوې عامې نتیجې ته عمومي هدف وائي لکه د یوه مضمون یا کتاب د یوه فصل اهداف.

۳ ـ خصوصي اهداف ـ دیوه پلان شوي کار په نظر کښې نیول شوې خاصې نتیجې ته خصوصي هدف وائي. لکه د یوه درسي ساعت د موضوع هدف.

مثال: یو مسلمان مسجد ته ځي چې لمونځ وکړي. پدې عمل کښې خصوصي هدف مسجد ته تلل دي او عمومي هدف پکښې دا دی چې لمونځ ادا کړي او پدې عمل کښې د خدای جل جلاله د رضا حصول نهائي هدف دی.


هدف
مشروع اهداف
غیرمشروع اهداف


آموزشي اهداف
نهائي اهداف
عمومي اهداف
خصوصي اهداف


د خصوصي هدف درى برخي
شرط
سلوك
معيار

که چېرې خصوصي اهداف په صحیح توګه تعیین او ترلاسه نه شي نو د عمومي او بیا د نهائي اهدافو لاس ته راوړل مشکل دي.
بدې لحاظ باید خصوصي اهداف په صحیح ډول تعیین او ترلاسه شي.
د دې د باره چې خصوصي تعلیمي اهداف (د یوې درسي موضوع اهداف) په صحیح ډول وټاکل شي، لاندې نقاط باید په نظر کې ولرو:
۱ــ هدف باید ښوونکی د شاګرد له خوا ولیکي (باید واضح وي چې دا فعالیت شاګرد سرته رسوي).
۲ــ د هدف په لیکلو کښې باید د پوهېدلو، پېژندلو او زده کولو په ځای د شاګرد کار او فعل ذکر شي.
۳ــ په یوه لیکلي هدف کښې باید د هغه ټولې برخې موجودې وي.
هر هدف درې برخې لري: الف ـ شرط، ب ـ سلوک، ج ـ معیار.
الف: شرط هغه محدوده ده چې په هغې کښې شاګردان یو سلسله فعالیتونه چې د هغو اجرا غوښتنه ورڅخه کېږي سرته ورسوي.
ب: سلوک د هغو فعالیتو نو مجموعه ده چې د شاګرد څخه یې د اجرا غوښتنه کېږي.
ج: معیار هغه درجه ده چې شاګردان په هغه درجه دا فعالیتونه باید اجرا کړي.
مثال: ټولګی: څلورم، مضمون: اجتماعیات، موضوع: د نړۍ براعظمونه
هدف: شاګردان په آخر د درس کښې وکولای شي چې د نړۍ د براعظمو نو نومونه واخلي او موقعیت یې په نقشه کښې وښیي

سلوک	شرط	سلوک	شرط

او داکار په دوه دقیقو کښې داسې سرته ورسوي چې د پنځو براعظمونو
معیار

څخه د خلورو نوموړنه صحیح بیان او موقعیتونه یې په نقشه کښې
وښیئ . معیار

په پورته مثال کښې د نړۍ د براعظمو لو نوموړنه او په نقشه کښې موقعیت یې شرط او د نوموړو بیانول او په نقشه کښې ښودل سلوک دی او له پنځو څخه د خلورو نوموړنه او موقعیت معیار تاکلی شویدی . همدارنګه په دوه دقیقو کښې اجرا کول معیار دی .

باید یادونه وشي چې دا وخت (دلته دا دوه دقیقې) د ارزیابۍ د وخت سره برابر وي او داسې تعیین شوی وي چې موضوع (شرط) په تاکلي طرز العمل باندې اجرا کول په همدغه وخت کښې ځائیږي.

همدارنګه دا وخت کله معیار او کله کله چې اهمیت یې د ښوونکي له نظره زیات وي شرط بلل کیدای شي مثلاً د کانکوریه ازموینه کښې وخت د اهمیت په سبب شرط کیدای شي .

پلان

منځکښې له دې چې مستقیماً په پلان بحث وکړو غواړو چې لمړی د انسان په فعالیت باندې رڼا واچوو . الله جل جلاله یوازې انسان ته د عقل، فکر او تصور قوه په برخه کړې ده او فرمائي: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ آدَمَ) دا همدا د کرامت صفت او د تعقل قوه ده چې د هغه په وجه الله تعالیٰ جل جلاله انسان د ځمکې په مخ خلیفه او آبادوونکی گرځولی دی (وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ط) په پورتني آیت شریف کښې انسان ته د ځمکې خلافت د الله تعالیٰ جل جلاله له طرفه د یوې ارزښتناکې تحفې په ډول ورکول شوی دي نو همدا سبب دی چې الله جل جلاله انسان

نه د ځمکې د آبادولو او د هغې په باره کښې فکر کولو قدرت ورښښلی دی.

دا ددې د پاره چې انسان د خپلې راتلونکې په باره کښې فکر او تصور کوي خو ځینې وختونه داسې هم پېښېږي چې یو عمل مخکې د کومې قبلې ذهني طرحې څخه په تصادفي توګه صورت ونیسي دا یدې معنی چې د عمل څخه مخکښې کومه آګاهي یا قصد موجود نه وي په همدې اساس انساني اعمال په دوه برخو وېشلای شو.

غیرشعوري اعمال او شعوري اعمال.

۱ - غیرشعوري اعمال:

غیرشعوري اعمال د هغو اعمالو څخه عبارت دي چې له مخکې نه یې د انسان سره د سرته رسولو تصور، فکر، او تدبیر موجود نه وي خو په ناڅاپي ډول یې سمدلاسه سرته رسوي.

۲ - شعوري اعمال:

شعوري اعمال هغو اعمالو ته ویل کېږي چې د سرته رسولو په باره کښې یې د انسان سره له مخکښې نه، تصور، فکر، تدبیر او پوهه موجوده وي او په پوره سوچ او فکر سره یې د هغوی سرته رسولو ته ریې جاري د ځان سره سنجولي وي او یوه طرحه او نقشه یې ورته جوړه کړې وي نو بیا ن هم هغه شعوري عمل دی چې د سرته رسولو په نیت له پخوا نه د کاغذ په مخ لیکل شوی وي او یا په ذهن کښې

د یوچا سره موجود وي .



د پلان تعریف:

پلان په لغت کښې تدبیرا و سنجش ته وائې او په اصطلاح کښې د یوه کار یا فعالیت لپاره ذهني نقشه او تګ لاره د پلان په نوم یادیږي .

درسي پلان:

یوه سیستماتیکه او منظمه تګ لاره ده چې د ښوونکي او زده کوونکو ټول فعالیتونه د اجرا په خاطر د ښوونکي له خوا پکې درج شوي وي . لکه چې پوهیږو بیله یوه منظم پلان له لوڅخه به د تړوند په هیڅ برخه کښې بشپړه بری نه مونږ په نصیب نه شي نو لازم دي چې یو ښه ښوونکی د تدریس لپاره تر ټولو د مخه باید یو

صحیح ، منطقي او مکمل درسي پلان ولري ، ترڅو د پلان په نظر کښې نیولو سره وکولای شي مطلوبه موضوع په ډېر ښه ډول سره تدریس، او زده کوونکوته ور انتقال او ښه نتیجه تر لاسه کړي.

یو ښه ښوونکی باید په عمومي توګه دری ډوله درسي پلان (پلانونه) د کال په پیل کښې په نظر کښې ولري.



۱ ـ کلنی پلان :

دا پلان د تعلیمي کال په پیل کښې د ښوونکي لخوا جوړېږي چې هغه کښې د رسي مواد ، د درسي کتاب متن د تقسیم الاوقات او جنتري مطابق په نظر کښې نیول کېږي او ټول موضوعات د درسي ساعتونو شمېر، رخصتی، آزموینه، د ټولګي څخه دباندې فعالیتونه او سیر علمي بدې پلان کښې پېشبیني شوي وي.

د مثال په توګه : غواړو چې د سږ د سږو (سږو) سیمود ښو ونځیو د شپږم ټولګي لپاره د ریاضي په مضمون کښې کلنی پلان ترتیب او جوړ کړو، نو د دې کار لپاره تر ټولو د مخه لاندې ټکي په نظر کښې نیسو :

۱ ـ یو تعلیمي کال (د حوت د ۱۵ څخه د قوس تر ۱۵ پورې) = نه (۹) میاشتې = ۳۶ هفتې

۲ ــ د امتحانونو ($4\frac{1}{2}$ ماهه او کلنی) وخت = (۱) میاشت .
۳ ــ له $4\frac{1}{2}$ میاشتنی آزموینې څخه وروسته د ګرمۍ رخصتي = لس (۱۰) ورځې .
۴ ــ د اخترونو او نورې متفرقه رخصتی = لس (۱۰) ورځې .
۵ ــ د ښوونکي د شخصي ضرورتونو لپاره اټکلي رخصتي = لس (۱۰) ورځې .
۶ ــ د ادارې د مهال وېش پر اساس په هفته کې څلور (۴) ساعته رياضي ده .

او س د امتحانونو ، اخترونو او د ښوونکي شخصي رخصتي چې ټولې دوې میاشتې کېږي د ټول تعلیمي کال د مودې څخه کمو و نو څو اصلي تعلیمي ورځې معلومې شي :

۹ میاشتې ــ ۲ میاشتې = ۷ میاشتې

۷ میاشتې = ۲۸ هفتې او په هره هفته کښې څلور ساعته رياضي لري چې په دې حساب په ټول تعلیمي کال کښې د نوموړي مضمون درسي ساعتونه (۱۱۲) ساعته کېږي او له بلې خوا ګوروچې د رياضي کتاب ټولې (۱۸۶) صفحې لري چې د موضوعا تو د سختوالي ، اسانوالي او حجم په نظر کښې نیولو سره نوموړی کتاب په (۱۱۲) ساعتونو باندې د لاندې جدول په اساس تقسیمو و :

چې په دې صورت کې هر لوی ښوونکي به خپل سر د ځوان نسل د ښوونې او روزنې کار روان کړی دی په داسې حال کې چې زیاتره یې د برزیار باسي، خو په زړه پورې نتیجه نه تر لاسه کوي او ځیني یې پوره معلومات او علمیت لري، خو زده کوونکو ته یې په ورلېږ د ولو کې وروسته پاتې دي.

له دې کبله د افغانستان د تعلیم او تربیې د کمېټې د تعلیمي نصاب ځانګې وپتیله چې د روان شوي تعلیمي نظام د سینګار ولولپاره تول هغه ښوونکي چې په دې برخه کې لاس لري د ښوونې او روزنې له اصولو طریقو او تعلیمي روحیا تو څخه برخمن کړي لو ځکه یې د ښوونکو د ښوونې او روزنې د سیمینا رونو لړۍ پیل کړه او د اکتاب یې د دغه د ول سیمینا رونو څ کښ او لار ښود وټا که، تر څو یې د افغانستان په بېلا بېلو ولایا تو او ښوونځیو کې د ظور کسیز و تربیوي هیئتو نو په مرسته او همکارۍ د عمل په ډګر کې پلي کړي.

کلنی پلان

مکتب :
صنف : ۲
مضمون : ریاضي
ښوونکی : عبدالله

کال : ۱۳۶۸
د ساعتونو شمېر : ۱۱۲

گڼه	موضوعات	درسي ساعتونه	نېټه	د ټولګي څخه بهر فعالیتونه او مواد - سیر علمي
۱	ریاضي	۲	۱۵ حوت - ۲۹ حوت	محیطي مواد - چارتونه
۲	سېټ	۳۰	۲ حمل - ۱۰ ثور	محیطي شیان - چارتونه - سیر علمي
۳	کسر	۳۱	۱۱ ثور - ۱۴ سرطان	اشکال - محیطي مواد
د ۱۵-۳۱ سرطان پورې څلورنیم میاشتنۍ آزموینه. د اول څخه تر ۱۰ د اسد د دوبي رخصتي.				
۴	نسبت او تناسب	۱۹	۱۱ اسد - ۱۷ سنبلې	چارتونه
۵	مقیاسات	۲	۱۸ - ۳۱ سنبلې	سیر علمي - مودلونه - متر او نور طبیعي شیان
۶	هندسه	۳۰	۱ میزان - ۳۰ عقرب	اشکال - هندسي بکس - مودلونه

او اول قوس څخه تر ۱۵ د قوس پورې کلنۍ آزموینه.

۲- موضوعي پلان :

هر کتاب د یو لړ موضوعا تو څخه تشکیل شوی دی چې محتویات
يې په منطقي ډول یو د بل سره تسلسل لري.
دا موضوعات په ځانګړي ډول سره مطالعه کیږي لو ښوونکی
د کتاب د هرې موضوع د پاره باید موضوعي پلان هم جوړکړي.
مثلاً: د شپږم ټولګي د ریاضي د جوړ شوي کلني پلان له مخې جبل موضوعي
پلان دا رنګه جوړ وو:

د موضوعي پلان تخمیني جدول

ګڼه	د مضامینو موضوعات	د مفاهیمو ترتیب او ساختمان	د درسي ساعتونو شمېر	د تاریخ او تقسیم اوقات په اساس	مواد او وسائل	د موضوع په شکل تیاری لم پروګرام نه بهر (ابتکاري)
۱	سیټ	۱- د ریاضي په شکل معلومات تعریف، حساب او عددونه (د کتاب اول مخ تر ۲ مخ پورې)	۱	۱۲ حوت	تخته او تباشیر، کتاب، تخته پاک د عددونو کارتونه چارت ...	د شیانو مودلونه جوړول، د مناسبو شکلونو انتخاب د شاګردانو د ذوق په اساس او هم د بنو او دلچسپو سوالونو جوړول
		۲- دیوه څخه تر لسو پورې رومي ارقام (۳-۴) مخونه.	۱	۱۹ حوت	〃	〃
		۳- د حسابي عددونو لوظبقي او مرتبې د (۵-۷) مخونه.	۳	د ۲۰ د حوت څخه تر ۲۲ پورې	〃	〃
		۴- د (۸) صفحې تمرین او حل یې.	۱	۲۹ حوت	〃	〃
۲	سیټ					

نوټ: په پورتني ترتیب سره د کلني پلان مطابق د هرې موضوع لپاره په موضوعي پلان کې د هغو درسي واحدونو ویش او لازم وختونه په نظر کې نیسو او هغه پلان ته موضوعي پلان وایو.

۳ـ د يوه درسي ساعت پلان :

تعریف : یوه سیستماتیکه او منظمه تګلاره ده ، چې د ښوونکي او زده کوونکو د یوه درسي ساعت ټول فعالیتونه پکې د اجرأ په خاطر د ښوونکي له خوا درج شوې دي .

د يو درسي ساعت د پلان مراحل :

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۱ ـ مقدماتي فعالیتونه او د ټولګي ترتیب او تنظیم :

الف : سلام اچول

ب : د زده کوونکو حاضري اخیستل .

ج : د احوال پوښتنه کول .

د : نظافت کتل .

هـ : کورنۍ وظیفې کتل او اصلاح کول .

و : د شاګردانو تنظیمول او د درسي مواد په ترتیب سره اېښودل .

ز : په مناسب وخت کښې انګېزه (۱) تولیدول .

---

(۱) معلم کولای شي چې په مختلفو حالاتو کښې انګېزه تولید کړي لکه :

د تېر او نوي درس ارتباط ورکولو نه مخکښې یا وروسته .

انګېزه هغه داخلي احساس او تحرک دی چې د خارجي عواملو په واسطه تولید او د انسان نیرو هڅوي .

دويم - د تېر شوي درس ارزيابي او د هغه ارتباط د نوي درس سره:

الف: ښوونکی باید تېر شوی درس له زده کوونکو څخه ارزيابي کړي.

ب: ښوونکی باید د نوي درس د عنوان د پيدا کولو لپاره له زده کوونکو څخه داسې سوالونه وکړي. ترڅو زده کوونکي پخپله په دې قادر شي چې د نوي درس عنوان پیدا کړي او دا امکان په صورت کښې دې تېر درس ته د نوي درس سره ارتباط ورکړي.

دريم - د نوي درس جريان:

۱ - د نوي درس د عنوان معرفي او د نوي درس مقدمه: د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ په ويلو سره د نوي درس عنوان په مشقي او ښه خط په توره تخته ليکل او که لازم وه د مربوطه درس صفحه هم ور سره ليکل او د نوي درس په هکله لنډه مقدمه ويل.

۲ - د فعاليتونو مشق کول:

الف - لوستل د نوي درس د کتاب له مخې په شاگردانو (د وړو، وړو ټوټو په شکل په څو شاگردانو).

ب - لوستل د درس په خفيه توگه د کتاب له مخې (چې وروسته د شاگردانو څخه پوښتنه کېږي چې له لوستلو د کتاب څخه څه؟ او څه زده کړي؟) او معلم به دې وخت کښې مشکلې او مهمې کلمې او جملې په توره تخته ليکي چې وروسته په تشريح کښې ترې استفاده کوي.

ج - د نوي درس تشريح: ښوونکی دې د وړو، وړو ټوټو په شکل د سوال او ځواب په توگه نوی درس د شاگردانو څخه وپوښتي

او معلم د ې ور سره کمک کوي او له ممد ودرسي او محيطي مواد ولکه چارتونو، کارتونو، کانو، لوبيا ..... څخه چې باید مخکښې ېې ذهیه کړي وي په درسي وخت کښې استفاده وکړي.

۳ – د درس راغونډول:

الف: د درس خلاصه کول یا لنډیز: پس له دې چې د درس دوره ورو ټوټو په شکل د سوال او ځواب په توګه شاګردانو ته وړاندې شوی وو. باید د معلم له خوا په خلاصه توګه د خو مختصرو ټکو په ترڅ کښې تشریح شي او کوشش وشي چې د درس نتیجه هم بیان شي.

ب – د درس ارزیابي: د پوښتنو په واسطه د شاګردانو څخه دا معلوموو چې شاګردانو نوی درس زده کړی او که نه؟

ج – د کورنی وظیفې ورکول:

پس له دې چې نوی درس ارزیابي شو د شاګردانو د توان او سویې سره سم او د درس په ارتباط باید شاګردانو ته کورنی وظیفه ورکړو او د درسي ساعت په آخر وخت کښې د ترقي تعلیم کتاب خانه پُري او د درسي ساعت په تبدیلیدو سره د شاګردانو سره خدای په اماني وکړو او د ټولګي څخه ووځو.

نوټ: د کیسو حکایت ویل: په هغه صورت کښې چې ټول درسي فعالیتونه ختم شول بیا هم څو دقیقې د درسي ساعت باقي وي معلم صاحب د شاګردانو د خستګی د لرې کولو لپاره اسلامي شعارونه په یو آواز په شاګردانو ووایي یا د هغو په ځای ور ته کیسو حکایت ووایې.

د درسي پلان اساسي ټکي

دې د درسي پلان په جوړولو کښې باید لاندې ټکي په نظر کښې ونیسو:

۱ ـ مشخصات: معلم، مدرسه، صنف، مضمون، موضوع، وخت او نېټه.

۲ ـ هدف یا د درس مطلب: د درس لپاره باید هدف ولیکي، او د درسي پلان په جوړولو کښې باید دا په نظر کښې ولري چې قدم په قدم په تدریس کښې هدف ته نژدې کېږي او که نه؟.

۳ ـ د زده کوونکو د سوېې تعیین: یعنې ښوونکی باید د شاګردانو سویه معلومه کړي. که چېرته ښوونکی نوی راغلی وي نو باید شاګردان ارزیابي کړي تر څو د شاګردانو سویه معلومه کړي - او د هغې مطابق درسي پلان جوړ او خپل تدریس عیار کړي.

۴ ـ د روشونو انتخابول: د درسي پلان په جوړولو کښې د مضمون او موضوع سره سم دا سې روشونه انتخاب کړي چې تر څو د شاګردانو زده کړه په صحیح او مفیده طریقه صورت ونیسي چې معلم او شاګردان دواړه هدف ته ورسوي.

۵ ـ د درس خلاصه یا لنډیز: د درس لپاره داسې خلاصه جوړه کړي چې ټول درس په خلص طور شاګردانو ته تقدیم شي او د درس نتیجه هم باید بیان شي.

۶ ـ د درس ارزیابي: د دې لپاره چې پوه شو خپل هدف ته رسېدلي یو او که نه. نو باید درس د زده کوونکو څخه په پوښتنو کولو سره ارزیابي کړو.

۷ - د وخت تعیین : د درسي پلان د هرې مرحلې لپاره باید مناسب وخت تعیین شي .

۸ - درسي مواد : د درسي پلان د هرې مرحلې لپاره باید مناسب درسي مواد انتخاب شي .

د درسي پلان وظیفې او ګټې :

۱ - پیچلي او مغلق مواد او مطالب په ښه توګه ترتیب او تنظیموي .

۲ - د وخت د ضایع کېدو مخنیوی کوي .

۳ - د مختلفو روشونو څخه د کار اخیستلو پېش بیني پکې کېږي .

۴ - ښوونکي په تدریس کښې خپل هدف ته رسوي .

۵ - ښوونکي سره کمک کوي ترڅو د درس په ارتباط د توجه وړ مواد برابر کړي .

۶ - د اصلي موضوعاتو وخت او ځای فرعي موضوعاتو ته نه ور کول کېږي .

۷ - په درسي فعالیتونو کښې شاګردانو ته زیات سهم او برخه ور کول .

۸ - ښوونکي د خپل تدریس څخه داډه او مطمئن کوي .

درسي پلان

معلم : عبدالله
مضمون : رياضي

ټولګی : شپږم
موضوع : معادل سېټونه

مدرسه : امام ابوحنیفه (رح)
نېټه : ۱۳۶۸/۱۱/۱۲

اهداف : په آخر د درس کې شاګردان وکولای شي چې معادل سېټونه تعریف، او په خپل سېټونو کې معادل سېټونه وښيئ او دا کار په ترته له غلطی څخه سرته ورسوي.

درسي مواد	درسي فعالیتونه	وخت ۳۵
توره تخته تباشیر تخته پاک	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اول - د ټولګي تنظیم : سلام، احوال پرسي، حاضري اخیستل، نظافت کتل، درسي موادو او لوازم تنظیمول، کورنی وظیفی کتل او اصلاح کول،	5'
	دویم - د تېر درس ارزیابي او د نوي درس سره يې ارتباط : سېټ تعریف کړه، د سېټ عناصر کوم دي؟ آیا تاسو سېټونه مثال یسه کولای شی؟ څرنګه؟ ... تاسو ولیدل بعضې سېټونو کې عناصر لږ او په بعضو کې ډېر او په ځینو نورو کې سره مساوي دي. ددی لپاره پکار ده چې د سېټونو ډولونه وپېژنو.	3'
د ښوونځي د رياضي کتاب تخته پاک د لرګي توتې د سرې، تباشیر، قلم، کتابونه، کتابچې	۳: د نوي درس جریان : ۱ - بسم الله الرحمن الرحیم زموږ نني درس معادل سېټونه دي (په توره تخته عنوان او ۱۸ صفحه لیکو او د مقدمې په توګه څو سېټونه پرتوره تخته واضح کوو). ۲ - د فعالیتونو مشق کول : الف - په خپلو شاګردانو د کتاب متن د ورو ورو ټوټو په شکل لولو. ب - ګرانو شاګردانو تاسو خپل کتابونه سره خلاص کړي او د دقیقو لپاره و وائی (د موقع څخه په استفاده سره به پر توره تختې څو سېټونه ولیکم). ج - چاچه زده کړل؟، معادل سېټونه څه ته وائي؟، لکه څنګه سېټونه؟ ... (د ضرورت په وخت به کمک کوم) په ترتیب سره معادل سېټونه تعریفوو، څو مثالونه يې په تخته واضح کوو او هم د محیطي موادو څخه په شاګردانو د ټولګي په منځ کی معادل سېټونه جوړوو.	18'
	۴ - د درس راغونډول : الف - په خلصه توګه د معادل سېټونو تعریف کوو او یو مثال يې واضح کوو.	3'
	ب - د درس ارزیابي : معادل سېټونه تعریف کړی؟، پدی سېټونو کې معادل سېټونه وښيئ؟ ...	5'
	ج - کورنی وظیفه : په خپلو کتابچو کې دری سېټونه ولیکی چې یو د بل سره معادل وي. (ترقي تعلیم خانه پوری کوو او په خدای (ج) په امانی سره د ټولګي نه وځو).	1'

دریم فصل

د ټولګي ترتیب او تنظیم

د ټولګي ترتیب او تنظیم نه یوازې دا چې د استاد د درس په آسانتیا کښې همکاري او مرسته کوي بلکه د زده کوونکو د زده کړې په برخه کښې هم د پام وړ کومک کولای شي نو لازمه ده چې:
ټولګي ته په داخلېدو سره د ټولګي د ترتیب او تنظیم په هکله لاندې ټکي په نظر کښې ونیسو.

۱ - د ټولګي پر شاګردانو سلام اچول:

ټولګي ته د داخلېدو سره سم باید په ورین تندي، او خوږه لهجه خپلو شاګردانو ته په مناسب آواز سره، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ووایو.
دا کار که له یوې خوا مسنونه طریقه او لازره ده خو له بلې خوا څخه په شاګردانو کښې د خوشحالۍ احساس را پیدا کوي او هم د ښوونکي او شاګردانو ترمینځ مینه، محبت، اخلاص او د زده کړې زمینه برابروي.

۲ - احوال پرسي:

باید د شاګردانو د روغتیا او ناروغتیا پوښتنه وشي، او که کوم شاګرد، ناروغي او یا کوم مشکل ولري د امکان په صورت کښې



تعلیم او تربیه

مخکښي له مخکښي نه

پلان شوي

تنظیم شوي

او هدف په لور ټاکله شوي

اغیزمنه عملیه ده

ورسره همکاري کوو، لازم هدایت او د صحت د ښه کېدو د پاره ډېره ورکوو.

۳ - د شاګردانو منظم کښېنول:

باید د ټولګي په ډننه کښې کوچني شاګردان په لومړي کتار (قطار) او لویان په ورستني کتار کښې کښېنوو ترڅو کوچني شاګردان توره تخته په ښه ډول ولیدلای شي.

۴ - حاضري اخیستل:

باید د خپل ټولګي د شاګردانو حاضري واخلو او په ورځ ني غیر حاضران حاضر په دوته وهڅوو. همدارنګه د ضرورت په صورت کې د غیرحاضرانو لست اداري ته وسپارو ترڅو د غیرحاضرانو د ډېر والي مخنیوی وشي او د علت د پلټلو په اساس د مشکل د حل لاره پیدا شي.

۵ - نظافت:

د خپلو شاګردانو د لاس، پښو، کالو، وېښتانو، نوکانو، ... پاکوالی او اصلاح باید تل په نظر کښې ولرو او هم د ناپاکۍ څخه د ناروغیو د پیدا کېدو او د هغو د مخنیوي لارې چارې او ګټې بیان کړو او هم د ټولګي او د هغه د مېز، چوکۍ، فرش، ... د پاک ساتلو توصیه وشي او د موجودو ناپاکیو د پاکولو لپاره مؤظف کسان خبر کړي او یا په شاګردانو د مختلفو پاکیو وېشل وکړي. د غه راز د ترمیم وړ شیانو په باره کښې اداره خبره کړي ترڅو یې چاره وکړي.

٦ – کورنۍ وظیفه کتل :

باید د شاګردانو کورنۍ وظیفه په داسې توګه اصلاح کړي چې هغوی بخپلو غلطیو پوه شي او که کوم شاګردانو کورنۍ وظیفه نه وه راوړې تهدید یې نه کړي ، بلکه لازم هدایت او لارښوونه ورته وکړي او په غوره طریقو سره یې د کورنۍ وظیفې راوړلو ته تیار کړي .

٧ – د درسي موادو او لوازمو تنظیمول :

باید د درس له شروع څخه دمخه خپل درسي مواد ترتیب ، تنظیم او برابر کړي او هر څه په خپل ، خپل ځای کښېږدي چې د استعمال په وخت کښې د کوم تکلیف او مشکل سره مخامخ نه شي . کېدای شي چې دا کار د شاګردانو او ټولګي د تنظیمولو په وخت کښې هم وکړي .

٨ – د تورې تختې موقعیت :

باید توره دره په داسې ځای کښېږدي او یا یې نصب کړي چې ټول شاګردان ورڅخه پوره استفاده وکړای شي او بېدې هکله باید لاندې ټکي په نظر کښې ولري :

الف : توره تخته باید د لمر د وړانګو په یوه خوا ، او داسې ځای کښېښودل شي چې د چا سترګې ونه برېښوي .

ب : توره تخته په تیاره ځای کښې ونه ځړول شي ، چې څه ور باندې ښکاره نه شي .

ج : باید توره تخته د ټولګي د شاګردانو څخه په مناسبه فاصله کښې

واقع وي چې کتل یې ستر ګو ته تکلیف ونه رسوي .

د : توره تخته د لوړوالي او ټیټوالي په اساس باید د ټولګي د ټولو شاګردانو لپاره د استفا دې او لیدلو وړ وي .

یادونه : د درس په جریان کښې باید زیار و باسو تر څو د ټولګي نظم او ترتیب تر اخره پورې خراب نه شي ، خصوصاً د ګروپي کار و نو ، مسابقې .... په وخت کښې چې د زیاتې بې نظمۍ احتمال پیښیږي .

د ښوونکي موقعیت او په ټولګي کښې یې د ضرورت سره سم چکر لګول او ټولو شاګردانو ته توجه کول په نظم او ترتیب کښې زیات اهمیت لري .

د درس د لچسپي د ټولګي په ترتیب او تنظیم کښې زیات اثر لري چې د ښوونکي ښه لهجه ، مناسب او ښکلی غږ ، غوره اسلامي اخلاق او ښه راښه درښه او هم د شاګردانو مشکلات په نظر کښې لرل ټولګی د لچسپۍ او په نظم کښې یې ښه والی راولي .

په مختلفو حالاتو کښې د ټولګي ترتیب او تنظیم

لومړی حالت :



دا ډول د صنف ترتیب او تنظیم چې د نال شکل لري او ښوونکی د نال د دواړو څوکو په منځ کې قرار لري ، د ښوونکي یوې خوا او بلې خوا ته یعنې د نال د څوکو په موقعیت کې د ېرکوچني ماشومان کښېنول شوي دي او په ترتیب سره د جسمي ودې او صحي وضعې په تناسب کښېنول کېږي . دا ډول ترتیب او تنظیم زیاتره د قرآن کریم او دیني مضامینو په تدریس او هم د رول پلې نځ بوي کارا و دا سې نورو موادو کې په کار وړل کېږي .

دوهم حالت :

د صنف دا دوول ترتیب او تنظیم چې څلور افقي قطارونه او شپږ عمودي قطارونه لري او د هر دوه عمودي قطارونو په منځ کې د شاګردانو د تګ او راتګ لپاره دوه لارې لري چې مجموعاً د توري تختې او ښوونکي په طرف دوه لارې لري چې لومړی افقي قطار کې پنځه کوچني ماشومان او یو لوی ماشوم لیدل کیږي چې لوی ماشوم یا داورېدلو تکلیف لري او یا د توري تختې د لیدلو



تکلیف لري نو ځکه په داسې ځای کې ورته ځای ورکړل شوی دی چې هم لومړی په ښه شان زده کړه وکولای شي او هم د نورو د زده کړې لپاره خنډ نه دی واقع شوی. او په دوهم افقي قطار کې هم کوچني ماشومان په دریم افقي قطار کې هم کوچني ماشومان خو د اول او دوهم قطار څخه لږ څه لویان دي. او په آخرني (څلورم) افقي قطار کې ټول لویان ماشومان دي او نوموړي ځکه په آخرني قطار کې کېنول شوي دي چې که د کوچنیو ماشومانو مخې ته کښېني د هغو څخه توره تخته منځ کوي او هم لوی خنډونه پیدا کوي او دا دوول ترتیب او تنظیم د ټولو عصري مضامینو په تدریس کې ښه رول لوبوي.

دریم حالت :

داډول د صنف ترتیب او تنظیم چې د څلورو قطارونو څخه تشکیل دی او په مینځ د هر دری نفري قطارکې یوه عمومي لاره د شاګردانو د تګ او راتګ لپاره لري په لومړي قطارکې پنځه تنه زده کوونکي د ډیر کوچني زده کوونکي او بیا تر لوی زده کوونکی دي چې د هغه سترګې ضعیفه دي د لرې څخه توره تخته ښه نه ویني او یا یې غوږونه معیوب دي د ښوونکي آواز د لرې څخه نه اوري نو لومړی پداسې



ځای کې موقعیت لري چې تخته هم د درس څخه ښه استفاده کولای شي او هم د نورو شاګردانو د زده کړې مخه نه دی ګرځېدلی په دوهم قطارکې متوسط شاګردان او په دریم قطارکې د دوهم څخه لږ څه لوی یان او په څلورم قطارکې د ټولو څخه لوی شاګردان قرار لري او ښوونکی د ټولو شاګردانو په مخ کې قرار لري او دا ډول ترتیب او تنظیم د ټولو عصري مضامینو لپاره مؤثر دی.

څلورم حالت:



دا ډول ترتیب او تنظیم د صنف چې دایروي شکله دی او ښوونکی هم د دایرې په محیطي برخې کې د شاگردانو سره یو ځای ناست دی او ښۍ او کیڼې دواړو خواوو ته یې ډېر کوچني ماشومان ناست دي او بیا په تدریج سره نظر په تناسب د جسماني وضعې او صحي وضعې کښېنول شوي دي او دا ډول ترتیب او تنظیم زیاتره اوقات د قرآن کریم - او دیني مضامینو په تدریس کې په کار وړل کېږي او هم په رول پلې - تجربوي کارونو او داسې نورو کې په کار وړل کېږي.

د ټولګي د ری ګوني مشکلات او د حل لارې

الف: دری ګوني مشکلات:

۱ ــ ټولګی اول دی. یو شاګرد د ټولګي په اخیر کښې ناست دی خوب وړی دی او خرېږي. د ټولګي نور شاګردان خاندي او د ټولګي نظم له منځه ځي. او ښوونکی بدې پوهېږي چې دا شاګرد د یوې غریبې (بېچاره) کورنۍ څخه دی او هم د لیرې ځای څخه راځي او کورنی مشکل هم لري. ښوونکی بدې حالت کښې څنګه کولای شي چې د ټولګي نظم وساتي؟

۲ ــ ټولګی دوهم دی. په ټولګي کښې د ننه ښوونکی په تدریس بوخت دی او یو هلک د بل هلک سره لوبې او لاس اچوي او درس ته نه متوجه کېږي او ښوونکی دغه حالت پخپله ستر ګو ګوري چې د ټولګي ځینې شاګردان خاندي. ښوونکی په دغه حالت کښې څه کولای شي چې دغه د ول مشکلات حل کړي.

۳ ــ پنځم ټولګی دئ او ښوونکی غواړي چې د تعلیمي کال په سر کښې یو ټسټ (امتحان) واخلي او ټولګی ډېر کوچنی دی چې د چوکیو د لیرې کولو امکان هم نشته او شاګردان پخپلو منځو کښې یو د بل څخه نقل کوي. په دې حالت کښې ښوونکی څرنګه کولای شي چې د ټولګي شاګردان کنټرول کړي او د نقل مخنیوی وشي؟

ب: د مشکلاتو د حل لارې:

۱ ــ د لومړني مشکل د حل لاره:

شاګرد د خپل ځای څخه پاڅوو او په ډېره مهربانۍ سره ورته وایو چې د صنف څخه د باندې لاړ شه خپل مخ او لاسونه په پاکو اوبو پرېمینځه.

وروسته له هغې چې بېرته راشي د ټولګي په اول قطار کښې ني کښېنوي او هم ئې په درسي فعاليتونو کښې د خپل ځان سره شريکوي، او نورو شاګردانو ته چې ورپورې ئې خندل په ډېره مهربانۍ سره توصيه کوو چې بيا ونه خاندي او هغوی پدې وپوهوو چې د درس په جريان کښې خندا کول ښه کار نه دی.

۲ - د دهم مشکل د حل لاره :

په اول قدم کښې هغه شاګردان چې لوبې پې کوي او لاس ئې سره اچولي وه د ټولګي مخ ته راغوا ړو او د هغوی څخه د لاس اچولو د علت پوښتنه کوو. کله چې علت معلوم شو د دوی په مېنځ کښې په عدالت فيصله کوو هغه شاګرد چې د لاس اچولو سبب ګرځېدلی و، په ډېره نرمۍ ته به ئې وپوهوو چې په آينده کښې د داسې ناوړه اوبد عمل څخه ځان وساتي او که دغه شاګرد دا عمل څو ځلې تکرار کړي نو بايد پدې صورت کښې د شاګرد د اوليا ؤ سره تماس ونيسو ترڅو ئې والدين هم د خپل اولاد د په اصلاح کښې کوښښ وکړي.

او که چېرې نو موړی شاګرد د ټولګي څخه خارج کړو د درس څخه محروم به ي نو بايد ښوونکی هر وخت د مهربانۍ څخه کار واخلي. او بيا ئې په ټولګي کې ځای نو ته تغيير ورکړو او په درس کښې ئې د ځان سره شريک کړو.

او هغو شاګردانو ته چې خندا ئې کړې په مهربانۍ سره دا رنګه توصيه وکړو چې ګرانو شاګردانو تاسې چې د درس په وخت کښې خندا کوی بيا درس ته نشي متوجه کېدلای او درزده کړې څخه پاتې کېږی چې پدې صورت کښې به ستاسې راتګ ښوونځي ته بې ګټې وي.

۳ - د دریم مشکل دحل لاره :

موږ باید دامتحان سوالونه په دوه ګروپونو کښې ترتیب کړو کله چې امتحان اخلو نود ټولګي شاګردان هم په دووګروپونو (الف اوب) باندې وېشو بیا دلومړي ګروپ سوالونه دالف ګروپ ته او ددوهم ګروپ سوالونه د (ب) ګروپ ته وایو.

۱ - اول د (الف) ګروپ شاګردانو ته سوالونه وایو او هدایت ورکړو چې خپلې پارچې سرچپه کېږدي اود کتلو اجازه ورته نه ورکوو تر څو د (ب) ګروپ شاګردانو ته هم سوالونه ووایو وروسته ټولو زده کوونکو ته د حل کولو اجازه ورکوو.

۲ - داول ګروپ سوالونو څخه د (الف) ګروپ شاګردانو ته یو سوال وایو او بیا ددوهم ګروپ څخه د (ب) ګروپ ته یو سوال وایو په هم دې ترتیب یو سوال یو ګروپ او یو سوال اوبل ګروپ ته وایو ترڅو ټول سوالونه وویل شي بیا وروسته د سوالونو دحل کولو جازه ورکوو.

ددغه دوول امتحان لپاره شاګردان په لاندې دول کښېنولای شو:

د شاګرد علامه (◯)

اوکه دفوتوسټیټ زمینه مساعده وي نو دد واړوګروپونو سوالونه فوتوکاپي کوو او بیا ئې دشاګردانو په ګروپونو د نوم ایښود لو مطابق توزیع کوو او هم شاګردانو ته دارنګه اعلان کوو چې دا امتحان دناکامی لپاره ندی او زه ناکامي نه کوم او تاسي کوښښ وکړی هرڅه موچې زده وي وئ لیکئ او خپل ذهن بیکار راچوئ کوښښ وکړئ چې لومړی آسان سوالونه حل کړی او بیا په مشکلو سوالونو باندې فکر او غور وکړئ او هغه حل کړئ.

بسم الله الرحمن الرحيم

لومړی فصل

د اسلام له نظره د مُعلِّم مقام

عالم او معلم ډېر اوچت مقام لري او خدای جَلَّ جَلالُهُ د دوی د اوصافو او فضیلتونو په هکله په قرآن عظیم الشان کې په بار بار فرمایلي دي چې ځیني د هغوی څخه د نمونې په ډول ذکرکېږي ځکه چې د ټولو لیکنه بېدې څو پاڼو کې امکان نلري.

۱ـ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ط (۹) آیت سورة الزمر

ترجمه: آیا هغه خلک چې پوهېږي برابر دي له هغو خلکو سره چې نه پوهېږي.

۲ـ يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ط
(۱۱) آیت سورة مجادله

ترجمه: خدای جَلَّ جَلالُهُ لوړوي درجې د هغو کسانو چې مؤمنان دي له تاسو نه او لوړوي درجې د هغو کسانو چې خاوندان د علم او پوهې دي.

۳ـ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ط
(۲۸) آیت سورة فاطر


الف ب الف ب
ب الف ب الف
الف ب الف ب
ب الف ب الف

څلورم فصل

اصول تدریس

اصول تدریس یوه سلسله منظم مقررات او قوانین دي چې استاد یې د تدریس کښې د هغو څه کار اخلي او هدف ته رسېږي.

اصول تدریس له دوو کلمو، اصول او تدریس څخه تشکیل شوی دی.

اصول: جمع د اصل دی او په لغت کښې: بیخ، اساس، بنسټ، بنا، تهداب، قاعده، قانون، طریقه، تګ لاره معنی لري.

تدریس: تدریس درس ورکولو ته وائي، تدریس د شاګرد د پېژندنې (شناخت) او وروسته د هغه له رهنمائۍ څخه عبارت دی.

کره دا پېژندنه فردي وي او که ګروپي، یا تدریس د هغو فعالیتونو مجموعه ده چې په نتیجه کښې یې د ښوونکي نه زده کوونکو (شاګردانو) ته پوهه انتقالېږي، او د تدریس مهم عناصر دا دي: ښوونکی، زده کوونکي، اصول تدریس یا د درس تګ لاره (د درس روش) او درسي مواد.

پس اصول تدریس د درس ورکولو هغه لارې چارې دي چې یو معلم یې د درس ورکولو کښې له هغو څخه کار اخلي. اصول تدریس ته چې د تدریس میتود ورته هم وائي د بېلو تعریفونو ورکول شوي دي چې څینې لنډ تعریفونه یې دلته را نقلوو.

۱ – د ښوونې او روزنې اساسي لاره ښوونکی د مېتود یا اصول تدریس څخه عبارت دی .

۲ – مېتود یوه منظمه او معموله رهنمائي ده چې د تدریس عملیه یې کښې د ښوونکي په واسطه اجرا کېږي ترڅو شاگردان ترې د زده کړې (آموزش) په وسیله هدف ته ورسېږي .

۳ – هغه تعمیري فعالیتونه دي چې شاگردان هدف ته رسوي .

۴ – مېتود هغه روش ته وائي چې د هغه په اساس ښوونکی شاگردان ته درس ورکوي .

۵ – مېتود عبارت دی له هغو مسلسلو کوښښونو څخه چې شاگردان د آغاز له نقطې (الف) څخه

(آغاز) الف ——————→ ب (انجام)

د انجام نقطې (ب) ته یعنې هدف ته رسوي .

۶ – د تدریس اصول عبارت له شروع او ختم دیوې سلسله منظمو آموزشي فعالیتونو څخه دي چې ښوونکی او شاگردان د تدریس هدف ته رسوي .

د تدریس خورا زیات مېتودونه موجود دي ، خو تر ټولو ښه او بهترین مېتود یا اصول تدریس هغه اصول تدریس دی چې ټاکل شوي اهداف لاسته راوړلای شي .

د مېتود یا اصول تدریس په ښه تطبیق کښې باید تر ټولو مهم ی ښوونکی د خپل ټاکل شوي هدف څخه ښه خبر وي او د اصول تدریس په قوانینو او پرنسیپو نو هم ښه پوه شي .

هغه مهمې نقطې چې یو ښوونکی ئې د مېتود په تطبیق کښې باید پکار یوسي په لاندې توگه تر نظر تېرو و .

هر ښوونکی د مېتود د تطبیق نه مخکښې په خپل هدف خبر وي

او هغه په مکمله توګه وپېژني او هېڅ مفهوم باید ورته پټ پاتې نه وي
او خپل فعالیتونه داسې منظم کړای شي چې قدم په قدم هغه وهدف ځوا
ته نږدې کړي او هره برخه کښې خپل فعالیت ارزیابي کړي ترڅو د خپل
مېتود په قوي او ضعیفو ټکیو پوه شي او د هغه د اصلاح لپاره اقدام وکړي.
څرنګه چې ښوونکی اصول تدریس د شاګردانو د رهنمائۍ او
زده کړې د فعالیتونو د سمون ورکولو لپاره په کار وړي نو د معاصرو
روانشناسانو په عقیده (ښوونکی د ښوونې او روزنې په کار کښې د زده کړې
د عملیې د لارښود او سمون ورکوونکي نقش لري). چې موږ په دې
باره کښې د ښوونکي نظر لاندې ټکیو ته را اړوو.
۱ - دا یوه ضروري او د پام وړ خبره ده چې د تدریس طریقه او د زده
کوونکو سره د ښوونکي د سلوک څرنګوالی یواځې د ده د معلوماتو او
تجربو په زیاتوالي کښې اغېز من ندی بلکه د ده روحي حالت هم تر
اغیزې لاندې راوړي چې د زده کوونکي رواني روغتیا په غوره
والي کښې ښېړه اغېزه لري.
۲ - د تدریس هر مېتود باید د شاګردانو استعدادونو په بناء و
څرخېږي لدې کبله چې هر سړی د زیاتې زده کړې خاص استعداد
لري.
۳ - د تدریس هدف زده کړه ده نو تلاش باید د زده کړې تابع وي
او په دې سبب ښوونکی باید د شاګردانو د زده کړې په مېتودونو او
قوانینو پوه وي او د هغه په مطابق د تدریس مناسب مېتود باید پکار
واچوي.
۴ - د هر مضمون د درسي مطالبو د زده کړې لپاره باید له خصوصي
مېتود څخه استفاده وشي مثلاً په ریاضیاتو کښې د (مسائلو د حل)
له مېتود څخه یا د سائینس په مضمون کښې د تجربوي اصولو یعنې

لا برا توا رخخه ا ستفا ده وشي.

۵ — هرمېتود باید د شاگردانو د سن مطابق په نظر کښې ونیسو کوچني شاگردان (وړوکي) هرشی په ټوله معنی سره وینې مثلاً هغه وخت چې له غوایې څخه خبرې کوو، نوغوئ، وړوکي شاګرد ته په ټوله معنی (دکل په شکل) مجسم کېږي نه د جز په قسم.

۶ — اکثره ملکونه د خپلو مکاتبو درسي کتابونه او تعلیمي نصاب داسې تهیه کوي چې د هغه په تطبیق کښې ښوونکی په ترتیب سره د مشاهدې مقایسې، صنف بندۍ، طبقه بندۍ، اندازه ګیرۍ، تصوراتو، فرضیاتو تجربو اونورو اصولو څخه د درس په جریان کښې استفاده کوي.

۷ — د مېتود په تطبیق کښې باید له سمعي او بصري وسایلو څخه کار واخلو.

۸ — زده کړه باید په یوخاص زمان اومکان مقیده نه کړو ځکه چې د انسان زده کړه تل ترتله دوام لري او له مختلفو او متعددو منابعو څخه حتی بېله خبرو الي (غیرشعوري) زده کړه کولای شي.

۹ — په هرمېتود کښې ژبه په زده کړه کښې اغېزمن اوځرګند رول لري هرڅومره چې د ژبې تکامل اورشد په سړي کې ښه سرته ورسېږي د هغه د زده کړې امکانات هم زیاتېږي او د سړي د فکر کولو اندازه اوځرنګوالی هم د ژبې په حالت او د هغه په یا د وتې پورې اړه لري. ښوونکی باید خپل ارتباطي مهارتونه، او د مفاهیمو دایره پراخه کړي او هم د شاګردانو د ژبې دودې د ښېرولو په تقویه کښې هڅه وکړي.

۱۰ — ښوونکی باید د مېتودونو په تطبیق کښې د زده کړې د اساساتو اوقوانینو څخه خبر وي.

۱۱ — ښوونکی باید د مېتودونو په تطبیق کښې د ښوونې او روزنې

لړاهدافو او سیستم د هغې اجتماع چې پکښې ژوندکوي له کتوراو ثقافت څخه استفاده وکړي.

۱۲ – ښوونکی باید د خپل ملي فرهنګ علمي پېژندګلوي او د هغه مثبت او منفي نقاط د خپل د روند مسئولیت درک او د خپل ملي فرهنګ منفي اړخونه د اصلاح لپاره صحیح مېتود په کار یوسي.

۱۳ – د نورو د فرهنګ او دود ودستور په باره کښې باید کافي معلومات حاصل کړي ترڅو وکولای شي د بلې اجتماع له علومو او فنونو څخه د نمونې په قسم استفاده وکړي داسې چې زمونږ له ملي ارزښتو نو څخه مخالف نه وي او یوازې د علمي او فني موضوعاتو څخه د خلکو د ژوند د ښه والي او آسوده ګۍ لپاره استفاده وشي.

په هیڅ صورت سره نه شو کولای چې د نورو فرهنګ عیناً تقلید کړو.

۱۴ – د اوسني حالت څخه راتلونکی مطلوب (د نظر وړ) حالت ته د رسېدو لپاره د ډاډ وړ روشونه او وسایل استعمال کړو.

۱۵ – هغه مېتودونه او وسایل چې د هغه په ضرورت باور لرو باید وآزمویو او د دې شجاعت او شهامت ولرو چې پخپلو نیمګړتیا وو اعتراف وکړو او له خپلو خطاګانو او لغزشو نو څخه عبرت واخلو.

۱۶ – باید و پوهېږو چې خپل امکانات ارتیا وي، اوسني او راتلونکي دغا یې هدفونه په څرګند ډول په هوښیارتیا سره کاملاً تعیین او مشخص کړو یعنې و پوهېږو چې د دې مېتود په تطبیق کښې کوم هدف تعقیب کړو او زمونږ راتلونکي هدفونه باید څه وي.

د تدریس مشهورې مېتودونه (طریقې)

- د سوال او ځواب مېتود.
- د مذاکرې او مناقشې مېتود.
- د مشکلاتو (پرابلم) د حل مېتود.
- د بحث او تحقیق مېتود.
- د فکري مشورې مېتود.
- د آزمایش مېتود.
- د رولپلې مېتود.
- د مسابقې مېتود.
- د لوبو مېتود.
- د ګروپي کار مېتود.
- د سیر علمي مېتود.
- پراجکت (پروژې) مېتود.
- فعال یا آزاد مېتود.
- تجربوي یا لابراتواري مېتود.
- د مشاهدې مېتود.
- د نمایش مېتود.
- سمعي او بصري مېتود.
- استقرائي مېتود.
- کُلي مېتود.
- د لکچر مېتود.
- د تکرار مېتود.
- حافظوي یا میخانیکي مېتود.

لکه څرنګه چې پخوا مو وویل سبنه مېتود هغه مېتود دی چې زموږ اهداف لاس ته راوړای شي ، نو ددې لپاره باید له داسې مېتودو نه ښخه کار واخلو چې شاګرد په فعالیت راولي یعني باید داسې مېتود وي چې شاګرد د فعالیت مرکز وي له دې کبله داسې مېتودونه چې شاګرد پکښې پراخه برخه لري همېشه موفق اوکامیاب دي .

په پخوانیو وختو نوکښې به له داسې مېتودونو ښخه کار اخیستل کېده چې ټول کار به معلم کاوه یعني ښوونکی به د فعالیت مرکز وو ، او دا یوه زړه طریقه وه مګرنن په اکثره دنیا کښې له داسې مېتودونو ښخه کاراخلي چې شاګرد پکښې د فعالیت مرکز وي . اوموږ ددغو دوو طریقو فرقونه او صفتونه په لنډه ډول داسې بیانوو :

ښوونکی دتدریس دمرکز په حیث (زړه طریقه)	شاګرد دتدریس دمرکز په حیث (نوې طریقه)
۱ — ټول معلومات (علم اوداش) ښوونکی له ځان سره لري او شاګردان په یوه طریقه زده کړه کوي .	۱ — شاګردان په انفرادي ډول فعال وي او کارکوي شاګردان خپل نظریات احساسات ، تجارب اوضروریات وايي اوعملي کوي يې .
۲ — شاګردان په هېڅ شي نه پوهېږي اوآموزش په غیرفعال ډول هغوی ته انتقال مومي .	۲ — ښوونکی یوازې دلارښوونکي حیثیت لري او یوازې هدایت ورکوي ټول کار او فعالیت شاګرد کوي او پوهه هغوی ته ښه انتقال مومي .
۳ — د شاګرد په دماغ فشار زیات وي او د موضوع په هکله د بې مثاله نه ویل کېږي .	۳ — د شاګرد په دماغ فشار کم وي د مثال پواسطه موضوع درک کوي .
۴ — یوازې ښوونکی فعال وي او درس ورکوي .	۴ — ټول فعالیت شاګردان فکر ته رسوي .

٥ – پخوا به یو مطلب یا موضوع په میخانیکي ډول د معلم لخوا د کاغذ یا کتاب له مخې ویله کېده ټول شاګردان به بېکاره پاتې وو بیا به یوه شاګرد لرګی را واخیست او په نورو به یې تکرارکاوٌ او پخپله معلم به قرار ناست وُ .

٦ – استاد منظم درسي پلان نه درلود، درسي مواد نه وو، او کوم خاص ترتیب موجود نه وُ .

٧ – ښوونکی د درس ورکولو مرکز وي او شاګرد ته وخت نه ورکول کېږي .

٨ – په ماشوم وېره وي درس میخانیکي زده کوي او عملي جنبه نه لري .

٩ – شاګرد له تجربو څخه نه خبرېږي او تجربې ورته انتقال نه مومي .

١٠ – شاګرد ته خطاب زیات کېږي او عملي کار کم کوي .

١١ – زده کړه صورت نیسي او که یې نه نیسي دا خبره معلم ته کوم اهمیت نه لري معلم خپل درس ورکوي او په مخ ځي .

٥ – په اوسنۍ طریقه کښې لومړی یو مطلب په مثال (تصویر) یا په سوالو کښې روښانه او بیا د هغه په باره کښې یو مطلب جوړېږي او دا کار د شاګردانو په واسطه سرته رسېږي . میخانیکي شکل نه لري او شاګرد برخه پکښې اخلي .

٦ – استاد منظم درسي پلان لري، او درسي مواد مرتب او په کار اچول کېږي .

٧ – شاګردان د درس مرکز وي او اکثره کار ورسره سرته رسوي .

٨ – ماشوم وېره نه لري درس په میخانیکي ډول نه وي شاګرد عملي کار کوي .

٩ – شاګرد ته نوي شیان طریقې او مثالونه ویل کېږي او تجربې هغو ته انتقال مومي .

١٠ – شاګرد ته خطاب کم کېږي، ګوروچې هغه څه زده کړي او عملي کار وکړي .

١١ – زده کړه په څه ډول صورت نیسي دا موقع شاګرد ته ورکوو چې هغه څه زده کړي .

۱۲ - شاګردانو ته زيات شيان ويل کېږي او هغه نشي زده کولای ، کم زوري او ضعيف شاګردان داکار نشي کولای .	۱۲ - شاګرد ته کم شيان ويل کېږي بايد بچله شاګرد فکر وکړي او خپل فکر په کار واچوي او يو مطلب زده کړي .
۱۳ - شاګردان يواځې او تنها ناست وي او د ليدونکو مثال لري .	۱۳ - شاګردان يواځې او تنها نه دي بلکه د ټولو سره مشترک او يوځای کار کوي .

لنډه دا چې او ربدل د هېرېدلو ، ليدل د ژيا د بدلو ، او کول د زده کولو معادل دي .

بايد ووايو چې خپل درس داسي عيان کړي چې د شاګردانو درسي فعاليت مخ په زياتېدو وي د نوي په توګه چې خپل درس کښي له لاندي اصولو څخه کار واخلي د بې ترتيبه وي لکه (سوال او ځواب ، ګروپي کار ، مسابقه ، رولپلې ، نمايش ، فکري مشوره ، لکچر ، د مذاکري او مناقشي ، د مشکلاتو (پرابلم) د حل ، بحث او تحقيق ، آزمايش لوبي ، سير علمي ، پراجکت (پروژې) ، فعال يا آزاد ، تجربوي يا لابرا-تواري ، مشاهدې ، سمعي او بصري ، استقرائي ، کلي ، تکرار او حافظوي يا ميخانيکي) .

I - د سوال او ځواب ميتود :

په دې ميتود کښي د درسي موضوعات په کوچنيو برخو وېشل کېږي او بيا په هره برخه کښي سوالونه طرح

ترجمه: په تحقیق سره ترهرڅه له خدای پاک (ج) څخه زیات وېرېدونکي
دتقوی لرونکي، کسان هغه دي چې هغوی علماء دي.

۴: — وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ط (۳۶ آیت سوره بني اسرائیل)

ترجمه: په هغو پسې مه کېږه چې وربا ندې نه پوهېږې.

۵: — يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣
(۱-۲-۳ آیت سوره المدثر)

ترجمه: ای په کالیوکې نغښتیه! یعنې اې رسول صلی الله علیه وسلم راپورته
شه، خلك په پندا و نصیحت سره وویروه او د خپل خدای جل جلاله لوئي ورته
بیان کړه.

او همدا راز پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم د عالم او معلم دا وصافو او فضیلتونو به
هکله فرمایلي دي او خپل ځان ته ئې د معلم نسبت کړیدی، لکه چې فرمایي:

۱: — إِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّماً (الحدیث).

ترجمه: په تحقیق سره زه معلم را لیږل شوی یم.

۲: — بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ (الحدیث).

ترجمه: زه د ښوا خلاقو د پوره کولو په غرض رالیږل شوی یم.

۳: — أَقْرَبُ النَّاسِ مِنْ دَرَجَةِ النُّبُوَّةِ أَهْلُ الْعِلْمِ وَأَهْلُ الْجِهَادِ
(الحدیث)

ترجمه: د هغو خلکو مقام او درجه نبوت ته ورنږدې ده —
چې هغه عالم او مجاهد في سبیل الله وي.

کېږي سوالونه د پراقسام لري څو دهغو د جملې څخه د ری قسمه سوالوته اشاره کوو.

۱ - هغه سوالونه چې شاگردان يې ځواب په هو - يا نه سره وائي .

۲ - هغه سوالونه چې شاگردان يې ځواب په لنډه تشريح سره ورکوي.

۳ - هغه سوالونه چې شاگردان هغوته اوږد ځواب ورکوي.

استاد بايد متوجه وي او د موضوع په ارتباط د شاگردانو د سويې سره سم د پورته دری واړو سوالونو څخه په تدريس کښې کار واخلي او لمړي رقم څخه دې دوهم او دريم رقم ته ترجيح ورکوي پدې مېتود کې تقريباً (۵۰٪) شاگردان د فعاليت مرکز گرځي.

هغه عمده نقاط چې استاد يې بايد د دې مېتود په وخت کښې په نظر کښې ولري دا دي :

۱ - ښوونکی بايد داسې سوال وکړي چې شاگردان د سوال په مفهوم باندې پوه شي .

۲ - ښوونکی بايد په سوال او ځواب کښې د صنف اکثرو شاگردانو ته برخه ورکړي .

۳ - ښوونکی بايد شاگردان د غلط ځواب ورکولو په مقابل کښې تهديد نه کړي .

۴ - کله کله دې ښوونکی موقع ورکوي چې يو شاگرد د بل شاگرد سره سوال او ځواب وکړي .

۵ - په دې روش کښې ښوونکی بايد زيات کنترول ولري چې د اصلي موضوع څخه خارج نه شي .

۶ - څرنگه چې دا روش زيات وخت نيسي نو ښوونکی بايد ځېل وخت په نظر کښې ونيسي .

II - د مذاکرې او مناقشې میتود :

اکثراً ښوونکی درسي موضوع او یا د ټولګي د زده کوونکو غوره مشکلات د شاګردانو د نظریاتو د اظهار لپاره مطرح کوي او د ټولګي ټول زده کوونکي دهغو په هکله مناقشه کوي، د حقایقو بیانول د مطرح شوې موضوع په ارتباط زیات اهمیت لري او هېڅکله مناقشه د دې لپاره نه وي چې د وه خواوې یو پر بل باندې غلبه ومومي بلکې د اوسني عصر د تعلیم او تربیې د پوهانو د توصیې او نظر سره سم چې باید زده کوونکي په صنفي امورو کښې فعاله برخه ولري او د فعالیت مرکز دې وي - مناقشه ښه رول لري.

په مناقشه کښې باید زده کوونکي ابتکاري تفکر ته تحریک او تحریص شي.

په مناقشه کښې د ښوونکي فعالیت، د هغه مهارت او مسلکي پوهه زیاته اغیزه لري. غوره مناقشه هغه ده چې زده کوونکي وکولای شي په آسانه، آزاده او دیو منظور او هدف لپاره یکښې افهام او تفهیم وکړي.

III - د مشکلاتو (پرابلم) د حل میتود :

د دې میتود په اساس ښوونکی په ټاکلو وختونو کښې د یو مضمون او یا مضامینو د تدریس ښوونې پروګرام د موجود مشکل (پرابلم) د حل لپاره اقدام کوي. داسې چې ښوونکی په خپل درسي ساعت کښې زده کوونکو ته وخت ورکوي ترڅو هغه عمده مشکلات چې دوی یې په حل کولو قادر شوي نه دي په ترتیب سره وواېي او ښوونکی د دغو مشکلاتو حل د ټولګي نورو

زده کوونکو ته راجع کوي خو که ضرورت پیدا شي بېخپله يې حلوي پدې ترتیب د زده کوونکو د زده کړې عملیه بشپړېږي .
لدې مېتود څخه د رياضي او نورو ساينسي مضامينو په تدريس کښې زيات استفاده کېږي . او معمولاً په لوړو ټولګيو کښې ورڅخه کار اخيستل کېږي .

IV - د بحث او تحقيق طريقه :

ددې مېتود په اجراء کولو کښې ښوونکی او شاګردان موضوعات او مسايل د نصاب او د کتاب د محتوی په مرسته او هم د خپلو شخصي معلوماتو او تجربو په رڼا کښې ترڅېړنې او بحث لاندې نيسي او د مسايلو اساسي او عمده برخې ټاکي .
په دې مېتود کښې هر شاګرد يا د شاګردانو هر ګروپ د موضوع د حل په اړوند د مختلفو منابعو څخه معلومات او اطلاعات جمع کوي او بيا په نوبت سره په بحث او څېړنه کښې برخه اخلي ، يو شاګرد د خپلو مشاهداتو حاصل بيا نوي بل هغه څه چې د آزمايش څخه په لاس راوړي ارائيه کوي او دريم شاګرد د خپل تفکر حاصل او نتيجه او جمع کړي اطلاعات د مسئلې د حل لپاره مطرح کوي .
د غه رنګ بحث او څېړنه پېښېږي او ټول صنف پکښې برخه اخلي په نتيجه کښې د مختلفو دلايلو په وړاندې کولو سره اساسي او معقول مطالب چې د موضوع سره نژدې اړيکې لري قبلېږي . پدې مېتود کښې د موضوع مختلف اړخونه څېړل کېږي او هم د شاګردانو او استاد د معلوماتو ساحه پراخېږي لدې څخه په شاګردانو کښې د استدلال روحيه قوي کېږي .
دا مېتود په اکثرو تعليمي مؤسساتو کښې په کار وړل کېږي مثلاً په لوړو

ټولګيو او دیني مدارسو کښې د منطق د مضمون تدریس د همدې مطلب لپاره سرته رسیږي .

۷ - فکري مشوره :

فکري مشوره هغه میتود دی چې د یوې موضوع په باره کښې د ټولو شاګردانو خپل نظر غوښتل کیږي او ښوونکی د نظریات په توره تخته یا سپین کاغذ باندې لیکي او د هیڅ نظر ته غلط نه وایې تنها له څو محدودو شاګردانو څخه نظر نه غواړي بلکې له ټولو څخه د نظر غوښتل کیږي .

ښوونکی باید لاندې عمده نقاط د دې اصل د تطبیق پر وخت کښې په نظر کښې ونیسي :

۱ - د فکري مشورې هدف باید معلوم وي چې د څه لپاره مشوره کوو .

۲ - باید ښوونکی شاګردانو ته ووایې چې خپل نظر او عقیده په آزاده توګه بیان کړي .

۳ - باید ښوونکی نظریات پر توره تخته او یا کاغذ پر یوه مخ روښانه او خوانا ولیکي چې له لرې فاصلې څخه د لیدلو وړ وي .

۴ - باید ښوونکی د لست له ترتیب څخه وروسته له شاملینو څخه وغواړي چې خپل مطلب ته وضاحت ورکړي که چیرې ورته ضرورت وي .

۵ - پس له تحلیل څخه ښوونکي مهمې نقطې پر اتفاق د ټولو تائید وي او نتیجه اعلا نوي پر دې روش کښې هم اکثره شاګردان د فعالیت مرکز دي .

۸ - د آزمایش میتود :

پر فزیکي ، کیمیاوي او ځینې نورو علومو کښې بر بې ښخوا حقایقو ته

رسيدو او د مطروحه فرضيو د اثبات لپاره نوموړي فرضيې د آزمايش لاندې نيولې او د لاس ته راغلو نتايجو څخه بې قوانين وضع کول.
خو په اوسني وخت کښې سربېره پر دې د آزمايش د مېتود څخه په کار اخيستلو سره ښوونکی د خپلو شاگردانو د پرمختگ اندازه تعيينوي او هم خپلې نيمگړتياوې د همدې لارې څخه درک او اصلاح کوي.

VII - رول لوبول يا د نقش لوبول:

د نقش لوبولو مطلب دا دی چې يو گروپ شاگردان د يوې موضوع په ارتباط د يوه کار او فعاليت په اجرا کولو سره عملاً" نوموړې صحنه تمثيلوي او په نورو شاگردانو نو زيات تأثير کوي.
او حتی د ټولگي د پرخاموش شاگردان هم د د لچسپۍ او ښې نږده کړې اظهار کوي.
هغه عمده نکات چې ښوونکی يې بايد د دې روش په وخت کې په نظر کښې ولري هغه دا دي:
۱ - د رول لوبولو لپاره دې مواد مخکښې له مخکښې څخه تهيه او آماده شي.
۲ - د رول لوبولو د اجرا لپاره دې ښوونکی شاگردانو ته واضح هدايت ورکړي.
۳ - هر شاگرد ته دې د نقش لوبولو نوم او وظيفه چې څه وخت يې اجرا کړي او څرنگه يې اجرا کړي وواېي.
۴ - د ټولگي نظم او کنترول بايد استاد په نظر کښې ونيسي.
۵ - د دې روش څخه دې هغه وخت استفاده کوي چې خلک پې بد نه بولي.

۶ - د روزلو لپاره دې هغه شاګردان انتخاب شي چې د اجرا کولو قدرت او توان ولري .
۷ - هغه شاګردان چې رول لوبوي د ټولګي نور شاګردان يې بايد وويني .
۸ - څرنګه چې په دې روش کښې شاګردان هم اوري هم يې ويني او هم عملاً کار کوي نو زده کړه ښه صورت نيسي لکه داسې يو متل دئ چې :
اوريدل هېريدل دي - ليدل زده کول دي - کول پوهيدل دي .

VIII - د مسابقې میتود :

په دې روش کښې استاد د تدريس شويو موضوعاتو په هکله په شاګردانو مسابقه کوي په دې روش کښې يو ګروپ شاګردان کوښښ کوي چې د بل ګروپ څخه مسابقه وګټي نو په دې خاطر شاګردان زيات د فعاليت مرکز وي .
مسابقه کېدلای شي چې په درسي ساعت، د هفتې په آخر کښې، په مياشت کښې او يا هم د يوه صنف او بل صنف د شاګردانو ترمنځ صورت ونيسي، او نتيجه يې د مسابقې په آخر کښې ښوونکی اعلان کړي .
هغه عمده نکات چې استاد يې بايد د دې اصولو په وخت کښې په نظر کښې ولري دادي :
۱ - د مسابقې د کولو په وخت کښې استاد بايد شاګردانو ته واضح هدايت ورکړي او هر ګروپ د يوه نوم، توري يا عدد په واسطه ونوموي .

IX - دلوبو میتود (روش بازي):

په فطري توګه لوبې د ماشومانو خوښې وي او زیاته علاقه ورسره لري نو ښوونکی کولای شي چې د ریاضي او ځینو نورو مضامینو د موضوعاتو تدریس په لوبو کښې اجرا کړي یعنې که چېرې د ماشومانو د لوبو د وه ښیان راواخلو او بیا د وه نور ورسره جمع کړو بیا وخت کښې ماشومان د دوه ، جمعې او ځلورو تصور په آسانۍ او دلچسپۍ سره زده کولی شي.

همدارنګه د جمعې ، منفي ، ضرب او تقسیم عملیې هم د لوبو په توګه ماشومانو ته ښوودلی شو لدې طریقې څخه د کم ذهنه او وروسته پاتې ماشومانو په زده کړه کښې زیاته استفاده کولی شو او د رنګه ګلونو ، چوټ او د لرګیو د مختلف الشکله بلاکونو مثلاً د اور لګیتو د بلیو او نورو په واسطه هغوی ته پورتنی ذکر شوې خلور ګونې عملیې تدریس کولی شو.

د آموزش (زده کړې) لوبې زیات اقسام لري چې د هغو څخه په کار اخیستلو سره تدریس او زده کړه په اغیزمن ډول سرته رسیدای شي.

X - ګروپي کار یا ګروپي طریقه:

په دې روش کښې د یوه ټولګي شاګردان په خو مختلفو ګروپو باندې وېشو تر څو د هر ګروپ شاګردان په هغې موضوع کښې چې ښوونکی یې ورکوي په مشترک ډول کار او فعالیت وکړي او خپل افکار او نظریات سره یوځای او شریک کړي.

تجربې ثابته کړې ده چې تر انفرادي زده کړې، ګروپي زده کړه زيات مؤثريت لري.

هغه عمده نقاط چې ښوونکي يې بايد د دې مېتود په وخت کښې په نظر کښې ولري دادي:

١- د ګروپ د غړيو تعداد بايد د ٣ او ٦ نفرو تر مينځ وي.

٢- ګروپونه بايد دايروي کښېني.

٣- د ګروپونو په مينځ کښې بايد لږه فاصله وي چې ښوونکي پکښې وګرځي.

٤- د ګروپي کار هدايت بايد واضح وي.

٥- په ګروپي کار کښې يوه موضوع يا مختلفي موضوعګاني دا سې شاګردانو ته ورکړلي شي چې د اجرا کولو قدرت يې ولري.

٦- په بل ځل ګروپي کار کښې د ګروپ شاګردان تغير او تبديل کړي.

٧- ځيني وخت د ګروپي کار نتيجه د ځبرو کولو په واسطه او يا هم کله چې شاګردانو په ګروپي کار کې نوشته کړې وي بيا د هغوی کتابچې ښوونکي تولوي او هغه اصلاح کوي.

٨- کېدای شي چې د ګروپي کار په آخر کښې د مسابقې د اصولو څخه هم کار واخلو.

٩- ښوونکي د ګروپي کار په وخت کښې د ګروپونو څارنه او مشاهده کوي او د شاګردانو سوالونو ته ځواب وايي.

په دې روش کښې زياتره شاګردان د فعاليت مرکز وي.

XI - د سير علمي مېتود:

اکثراً په مختلفو مضامينو کښې ځيني داسې موضوعات شته چې سربېره

پر تشریح او تدریس عملاً پې لیدلو ته ضرورت پیښیږي ، سبووونکي او شاګردان مجبور کیږي چې ټولګی او کله کله سبو ونځی هم پرېږدي او د لطن و ځاییو نو ته سفر وکړي .

کېدای شي دا مطلوب ځایونه او شیان د ډېر لرې او یا د سبو ونځي د سره په نژدې فاصله کښې واقع وي .

یعني که د ساینس استاد د ونې یا یو نبات په هکله موضوع تدریس کړي او بیا طلاب د سبو ونځي ساحې یا لبن څرولاندې ځای ته بوځي او ونه یا نبات ورته عملاً وښیي او د موضوع په هکله لازم توضیحات ورکړي نو په حقیقت کښې بې د سیر علمي د میتود څخه کار اخیستی دی ، همدا رنګه د تاریخي او جغرافیوي ځایونو د کتلو لپاره کله کله اونږ د سفر ته ضرورت پیښیږي ، لکه سرحداتو ، فابریکو ، پلونو ، مؤسساتو او نورو ته سفر کول او کتل بې .

استاد ته په کار دي چې د سیر علمي لپاره ټول هدایات ، امکانات او لازم مواد برابر کړي او هم د زده کوونکو د زیاتو معلوماتو او استفادې لپاره کولای شي د سیمې بلد او پوه اشخاص یا د مؤسساتو د ولسي مسئولین او بولي ترڅو د هغوی په مرسته موضوع او مطلوب ځای ښه روښانه او تشریح شي .

دا طریقه په هره دوره کښې استعمالیدای شي .

د سیر علمي په واسطه له یوې خوا نه د شاګردانو د کنجکاوۍ حس راپاریږي او له بلې خوا نه بې د معلوماتو سویه لوړیږي .

XII - د پراجکت (پروژې) میتود :

د دې طریقې په اساس د زده کوونکو انفرادي فعالیتونه دومره

مهم نه ګڼل کیږي بلکه د له این فعالیت ته یې ارزښت ورکول کیږي.

د ښوونځی د یوولسمي ټولګي شاګردان چې په د له این دول د ژوندانه د عیني شرایطو سره سم د ښوونکي په لارښوونه کوم فعالیتونه سرته رسوي د پروژې مېتود بلل کیږي.

د پروژې په مېتود کښې لاندیني فعالیتونه سرته رسیږي:

۱ – شاګردان د پروژې د خصوصیاتو او وظایفو په اساس په ګروپونو وېشل کیږي.

۲ – هر ګروپ ته د ښوونکي لخوا یوه پروژه یا د پروژې یوه برخه ورکول کیږي.

۳ – د هر ګروپ غړي ته ځانګړې وظیفه سپارل کیږي.

۴ – د پروژې انتخاب، را پورلیکل او معلومات وړاندې کول د شاګردانو په خوښه، د ښوونکي لارښوونه او په دله این دول سرته رسیږي.

د پروژې په مېتود کښې لاندې ټکي د پام وړ دي:

۱ – د پروژې هدف.

۲ – د پروژې عملي پلان.

۳ – د پروژې کومکي منابع.

۴ – د پروژې نتیجه.

پروژه کېدای شي د یو دکان چلول، باغونو چورول، د چرګانو فارم جوړول او یا د ځینو لاسي صنایعو په شکل وي مثلاً په افغانستان کښې د چرګانو غوښې ته اړتیا لرو او د دې اړتیا د بشپړولو په غرض د چرګانو فارم جوړوو (هدف).

چرګوړي پیدا کول، خوراک خښناک یې، د خوراک خښناک لوښي یې، ځای یې، واکسین کول یې، ځای پاکول یې، چرګان په بازار کې پلورل او دا رنګه نورې هغه وظائف دي چې یو یو شاګرد یا یو ګروپ یې باید سرته ورسوي.

۴ — مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ
(الحديث)

ترجمه: څوک چې د علم د حاصلولو لپاره ووځي نو هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کې وي تر څو چې وا پس راګرځي.

۵ — اِنَّ الْمَلٰئِكَةَ لَتَضَعُ اَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ
(الحديث مشكوٰة)

ترجمه: په تحقیق سره ملائکي خپلي وزري د طالب العلم لپاره خپروي. د پورتنیو مبارکو ارشاداتو څخه د عالم او ښوونکي لوړ مقام ښکاره کېږي لکه څنګه چې مقام او منزلت اوچت دی، هغو مره يې مسئولیت هم درونـد او سنګین دی، نو باید ټول علما او ښوونکي دې ټکي ته متوجه وي چې خپل قول او فعل د اسلام په اصولو سره برابر کړي، او که خپل قول او فعل د اسلام په اصولو برابر نکړي نو خدای مکړه بیا به د خدای جَلَّ جَلَالُهُ له دې وعید لاندې راځي چې:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝۲ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۝۳

ترجمه: (۲-۳ آیتونو سوره الصف)
اې مؤمنانو ولې وایئ هغه چې نه يې کوئ. لویه ده له جهته د غضبه په نـزد د الله جَلَّ جَلَالُهُ دا خبره چې وایئ به هغه کار چې نه يې کوئ.

نو په همدې خاطر باید ښوونکي پخپله د اسلامي اخلاقو یوه کامـله نمونه وي او هغه څه چې شاګردته د هغه د اسلامي تربیت په خاطر ورښاندې کوي او لا پخپله پخپل ځان عملي او بیا يې نورو ته وړاندې کړي یعني دا چې

XIII - فعال یا آزاد میتود :

له پخوانزمانو را هیسي لیدل کیږي چې د تدریس په عملیه کښې زیات فعالیت استاد کوي ، خو اوسني نظریات دا دي چې باید د ښوونې او روزنې د هدف سره سم ماشومان د هغوی د ځوانۍ او راتلونکي ژوند لپاره تیار او چمتو کړو.

نوځکه بدې ټینګار کیږي چې د ښوونې ټول فعالیتونه باید د زده کوونکو د ذوق او علاقې سره سم وټاکل شي .

که زده کوونکو ته د تدریس په وخت کښې د زیات فعالیت زمینه برابره شي او ښوونکي ېې یواځې لارښوونه وکړي نو په زړه پورې نتیجه به ولري .

ځکه چې تعلیم او تربیه هغه پرله پسې جریان دی چې د وګړي د ژوندانه په ټولو پړاوونو کښې دوام کوي ، نو که ماشومان زیات فعالیت په غاړه واخلي او د کومې سهوې یا اشتباه سره مخامخ کیږي ښوونکي يې لارښوونه کولای شي .

خو که هر فعالیت ښوونکي سرته ورسوي زده کوونکي ېې ښکلا و یا نیمګړتیا وو ته هومره نه متوجه کیږي لکه څومره چې د خپل فعالیت په ترڅ کښې ورته پام لري .

له دې کبله په اوسنیو نظریاتو کښې داسې ټینګار کیږي چې زده کړه باید په عملي توګه په کار و لوکښې د زده کوونکو په برخې اخیستلو سره صورت ونیسي .

نه دا چې هغوی د شیانو او کارونو لپاره یواځې ځینې مطالب حفظ او یاد کړي . او هم بدې نظریاتو کښې د ژوند اجتماعي اړخونو ته اهمیت ورکول کیږي او انفرادي زده کړه او معلومات ذخیره

کول سنه نه بولي .

ددې نظر یا تو په نتیجه کښې سبو ونکیو له خپل پخوانی حالت څخه چې یوا ځې به پکښې د مختلفو درسونو زده کړه او د معلوماتو ذخیره کول مقصد وه تغیر کړي او په داسې مؤسساتو بدل شوی چې په هغو کښې ما شومان په داسې فعالیتونو مشغولیږي کوم چې هغوی او سبو ونکو ته یې دلچسپ او تربیوي ښکاري او کېدای شي دا فعالیتونه ډېر وخت ونیسي .

مثلاً کېدای شي ما شومان په یوه پروژه کې چې د کور د جوړولو نمونه او نقشه تمثیلوي هفتې تېرې کړي .

یعنې کله چې بدې پروژه کارکوي شاید د هغو کتابونو لوستل کتنې وه بولي کوم چې د کورونو په جوړولو کښې ضرورت دي ، شاید ریاضي او د هغې مختلف مراحل د لرګیو د قیمت او د هغې اندازې لزګیو چې کور پرې جوړېدای شي ، زده کړي .

همدا رنګه د برق د لینونو ، سویچ ، هولډر او داسې نورو وسایلو په هکله هم ممکن معلومات حاصل کړي او په څنګ کښې به یې ځینې نورې زده کړې هم وکړي .

XIV- تجربوي یا لابراتواري میتود :

پوهیږو چې ساینسي علوم زیاتره په تجربو متکي دي او زیات وختونه ښوونکي له داسې موضوعاتو سره مخامخ کیږي چې د طلابو د زده کړې په خاطر به تقریري وضاحت سربېره باید په لابراتوارکې تجربه هم اجرا کړي ترڅو تدریس عملیه بشپړه شي . دا طریقه ډېره ګټوره ده او د ساینسي علومو په تدریس کښې رغنده رول لري .

XV - د مشاهدې مېتود :

په سا ينسي علوموکښې اکثره موضوعات دا رنگه وي چې ښوونکی يې بايد زده کوونکو ته تجربه وکړي او زده کوونکي يې عملاً و وويني ، نوکله چې طلاب د تجربې په وخت کښې د استاد تشريحا تو ته غوږ نيسي او د تجربې مشاهده کوي موږ وايو چې د مشاهدې د مېتود څخه کار اخيستل کېږي .

کېدای شي چې د مشاهدې مېتود د استادانو د رسونو د کتلو په وخت کښې هم استعمال شي .

XVI - د نمايش مېتود :

د نمايش مېتود داسې روش وي چې ښوونکی د درس د موضوع مطابق ځينې مواد تهيه کوي (چې دا مواد د شکلونه ، رسمونه او داسې نور شيان کېدای شي) او هغه مواد شاگردانو ته د درس په جريان کښې ورښيي او شاگردان هغه گوري او خپل فکر په کار اچوي او درس ورته د لچسپ کېږي .

هغه عمده نکات چې ښوونکی يې په نظر کښې ولري دا دي :

۱ - ټول شاگردان بايد نمايش و ويني .

۲ - د نمايش د موادو سره آشنائي ولري او ويې پېژني .

۳ - هغه شی چې نمايش ورکول کېږي بايد له لرې فاصلې څخه د ليدلو وړ وي .

۴ - په نمايش کښې بايد داسې شيان استعمال کړو چې تهيه يې آسانه او ارزانه وي .

XVII - سمعي اوبصري میتود :

پدې میتود کښې تدریس او زده کړه د راډیو، تلویزیون، ویډیو، فلم، سلایډونو، عکسونو، چارټونو، کارتونو او داسې نورو موادو او وسایلو په مرسته صورت نیسي.

ددې میتود د استعمال ساحه ډېره پراخه ده او د تدریس عملیه مجسمه، دلچسپه او آسانه کوي.

XVIII - استقرائي میتود :

پدې طریقه کښې ښوونکی پخپل درس کښې د جز څخه کل بلو ته ځي او په آخره کښې نتیجه ګیري کوي یعنې که ښوونکی د خپل درس په پیل کښې تخکښې لدې چې پخپله یې ووایې د زده کوونکو څخه یې وپوښتي او هر زده کوونکی پخپل وار سره د درس څه برخه ووایي نو آخر به درس د کل په شکل پوره شي نتیجې ته ورسیږي، یا په ریاضي او نورو سایнسي مضامینو کښې چې مسئلې د جز څخه شروع او په آخره کښې یې کلي قاعدې او نتیجې ته ورسیږي و مثلاً که ووایو چې سپی، آس او پیشو د تنفس په وخت کښې خپلې لاندینۍ ژامې ته حرکت ورکوي نو موږ ددې دلیل په اساس دې نتیجې ته رسیږو چې ټول حیوانات د تنفس په وخت کې خپلې لاندینۍ ژامې ته حرکت ورکوي.

دا طریقه دابتدائي پړاو ټولګیو او هم ثانوي دوره کښې ډېره مؤثره ده.

همدارنگه د نورو کلمو، جملو او مفاهیمو زده کړه د جزځخه پیل او د کل په لور زده کیږي يعني اول توري، بیا کلمه وروسته جملې او بالاخره مفاهیم زده کولای شو.

XIX - کلي میتود:

کلي يا قياسي میتود هغه طريقه ده چې ښوونکی په تدریس کښې د کل ځخه د جز پلوته بیايئ، دا طریقه د استقرائي طريقې په عکس ده او عموماً د ابتدائي په لومړیو ټولګیو او کوچنیانو (وړکتونونو) کې تراستفادې لاندې نیول کیږي.

مثلاً که ووایو چې هرجسم وزن لري نو دا رنګه نتیجه اخیستلای شو چې ټول اجسام لکه اکسیجن، هایدروجن او ټول واړه او لوی ذرات وزن لري.

کوچنیان ماشومان هرشی د کل په توګه ويني يعني کله چې د چرګ تدریس ماشومانو ته کوو نو باید ټخپله چرګ او یاد هغه تصویر ورته وښیو او بیا یې لیکنه (نوم)، د تصویر په خواکښې وښایو نه داسې چې د جز په توګه یې ځینې برخې لکه اول سر بیا پښې او وروسته بڼکې و ښیو او په آخر کښې د چرګ ټول بدن ماشومانو ته ور ښکاره کړو، ځکه چې دا کار ماشومانو ته ګرانیږي او د جز نه کل ته میتود د ګټې کیږي.

XX - د خبرو یا لکچر میتود:

په دغو وروستیو وختو کښې د لکچر په ډول د تدریس میتود د نورو ټولو میتودونوځخه زیات تر انتقاد لاندې دی په ځېره بیا په ساینسي

مضامینو کښې ئې مناسب نه بولي. خو بیا هم په پراخه پیمانه په ټولو مضامینو او درسونو کښې ترې استفاده کېږي او عوامل ئې البته پخپله ښوونکي ته واضح او روښانه دي.

په دې مېتود کښې د پېر معلومات شاگردانو ته ورکول کېږي او د دغه راز مېتود د مطالبو تهیه کول آسانه دي. دا مېتود د ښوونکو یو عادت گرځېدلی دی.

په دغه ډول تدریس کښې معلم چې په خپله تخصصي څانگه کښې د لوی لاس لرونکي علمي شخصیت په توگه حاکم مطالب لري او د هغو د رښت والی د پر سنه پېژني دی خیال کوي چې شاگردانو ئې په مطالبو پوهه تر لاسه کړي او د خپلو تېرو تجربو سره ئې پیونده وي.

که د ښوونکي فکر په دې برخه کښې صحیح وي نو دا مېتود تر ټولو مېتودونو اقتصادي دي خصوصاً په هغو صنفونو کښې چې د شاگردانو تعداد زیات وي.

څرنگه چې فعالیت یا عملیه د تدریس یو طرفه ده یا په بل عبارت شاگردان په درسي فعالیتونو کښې د ومره حصه نه لري نو له دې کبله هغه مطالب چې شاگردانو ته ورزده کول کېږي د بر ژر ئې له یاده وځي او دغه مېتود لو محدود یتونه دادي چې معلم د خبرو په وخت کښې د شاگردانو پېشرفت نه شي ارزیابي کولای.

ښوونکی په دې مېتود کښې فعال دی هغه څه شی ئې چې زده دي د شاگردانو ذهن ته منتقل کوي، شاگرد هم د انفعالي حالت په خاطر هغه څه چې د ده په مخ کښې عرضه کېږي قبولوي څرنگه چې د ښوونکي فعالیت یو طرفه دی نو نشي کولای هغه مطالب ارزیابي کړي چې بخپله ئې وائي نو ښا پردې امکان لري غیر صحیح مطالب د مدللو نظریاتو په توگه وړاندې کړي.

دا مېتود د یکتا توري جنبه لري ځکه چې ښوونکي خپل نظر سپه شاگردانو تحمیلوي .

په دې مېتود کښې د شاگرد ذهن د یوه گُدام په شان دی چې د ښوونکي په وسیله سره ډکېږي د علمي مطالبو زده کړه د شاگرد د سلوکو په تغیرکې مؤثر نه وي ، شاگرد د وړاندې شوي مطالبو په فهم کښې له مشکلاتو سره مخامخ کېږي ، شاگرد باید له حافظې څخه د مطالبو په زده کړه کښې کار واخلي ، په مکرر او ربډلو سره نامربوط شیان ذهن ته منتقلوي .

څرنگه چې د لکچر مېتود په زیاته اندازه زموږ په ښوونه او روزنه کښې استعمالېږي نو ددې په خاطر په تاکید سره دا توصیه کېږي چې ترڅو دنورو مېتو دونو په کومک سره دا مېتود مؤثره کړو یعنې شاگردان باید په فعاله توگه په کښې برخه واخلي ترڅو درس له یو طرفه حالت څخه ووځي .

لکه څرنگه چې وویل شو په دې مېتود کښې ښوونکي د فعالیت مرکز دی . ښوونکي نظر شاگردانو ته زیات فعال وي او دا مېتود تقریباً (۲۰۰۰) کاله مخکښې له نن څخه په پخواني یونان او روم کښې استعمالېده اونن هم د جهان په ډېرو مناطقو کښې دا استفادې وړ دی ، په دې مېتود کښې ښوونکي خبرې کوي په داسې حال کښې چې سترگې او مخ يې د شاگردانو خوا ته نیولي وي .

بعضې ښوونکي خپل درس د سوال او ځواب او یا داچې تخته په تخته نوشته شوي وي او یا له کومې بلې سمعي یا بصري وسیلې څخه استفاده کوي یعنې ښوونکي کله کله د شاگرد د فعالیت مرکز د مېتود څخه استفاده کوي له دې مېتود څخه ممکن نه ده تدریس هغه وخت وشي چې دا دواړه مېتودونه یوځای او په موازنه سره ترې استفاده وشي که ښوونکي

يو ائې له يوه مېتود څخه استفاده وکړي شاګرد په خلاصه خوله او تش دماغ له خوبه ډکې سترګې او ستومانه به د ښوونکي لکچر ته غوږ نيسي او وخت به حساب کوي چې ژر ژر درسي ساعت بدل شي.

ښوونکي د دې مېتود په تطبيق کښې بايد لاندې ټکيو ته متوجه اوسي:

الف ـ دا خطره لري چې ښوونکی د پرې خبرې وکړي او شاګردان له ياده وباسي.

ب ـ څرنګه چې په صنفونو کښې د شاګردانو سويه يو شی نه ده نو شايد ښوونکی د لکچر په جريان کښې لايق شاګردان او نالايق شاګردان هېر کړي.

ج ـ سخته ده چې په دې مېتود کښې حقيقي تجربې شاګردانو ته اجرا شي.

د ـ د يوه ښوونکي لپاره سخته ده چې د ټول صنف توجه د يوه زيات وخت لپاره وساتي.

کله چې ښوونکی د لکچر له مېتود څخه کار اخلي بايد لاندې نقاط په نظر کښې ولري:

۱ ـ د ټولګي ټولو شاګردانو ته دې وکتل شي نه داسې چې صرف د صنف يو تعداد شاګردانو ته ګوري او نور شاګردان تر خپل نظر لاندې نه ساتي.

۲ ـ په صنف کښې دې ښوونکی په يوه ځای نه درېږي، بلکه خپل ځای تر دې تغير ورکوي او هم دې خپل غږ ته تغير ورکوي داسې چې کله جګ او کله هم ټيټ وغږېږي او کله دې هم د لاس په حرکت سره خبرې وکړي.

۳ ـ ښوونکی بايد د زده کوونکو د فهم او درک سطحه په نظر کښې ولري او هغو د استعداد څخه دې په ځګه سويه لکچر نه ورکوي.

۴ ــ د لکچر مهم نقاط دې د مثال په ورکولو سره واضح کړي.

۵ ــ ښوونکي دې په دې مېتود کښې د چارت او نورو درسي موادو څخه کار واخلي.

۶ ــ د لکچر د دوه پرله پسې برخو تر مینځ دې لنډه وقفه وکړي.

XXI - د تکرار مېتود:

له دې مېتود څخه اکثراً د قرآن کریم او نورو دیني مضامینو په تدریس کښې کار اخیستل کېږي.

همدا رنګه د مضامینو د پروګرام د تدریس د بشپړېدو وروسته او یا د تعلیمي کال په نورو تا کلو وختونو کښې ښوونکي زده کوونکي تکرار ته چمتو کوي او پخپله مشا هده مرسته او کومک ورسره کوي.

همدا رنګه کېدای شي چې ښوونکي یوه داسې سخته موضوع چې په یوځل تدریس زده کوونکو نه وي زده کړې د تکرار د مېتو د څخه په استفادې کولو څو ځله بیا تشریح کړي. دا طریقه زیاتره په ابتدائي دوره کښې تر استفادې لاندې نیول کېږي.

XXII - حافظوي یا میخانیکي مېتود:

لدې طریقې څخه زیاتره د قرآن کریم، نبوي احادیثو، او هغو موضوعاتو په تدریس او زده کړه کښې کار اخیستل کېږي د کوم چې میخانیکي او یا ټکي په ټکي زده کړه مراد وي.

پدې مېتود کښې د درس محتویات د ښوونکي په لار ښوونه بیا بیا او په میخانیکي ډول د شاګردانو حافظې ته سپارل کېږي په دې مېتود کښې د تکرار مېتود هم زیات رول لري.

پنځم فصل

روحيات (روانشناسي)

روحيات يا روانشناسي څه ته وائي؟

د تعليم مقصد صرف د علم حاصول او محض متعلم ته څه مخصوص معلومات ورکول ندی، بلکي د تعليم مهم مقصد علم[1] نافع سره سره د متعلم د پوره شخصيت د متوازني ودې او روزني ته اهتمام کول دي.

د اسلامي تعليماتو په رڼاکي د متعلم د سيرت او کردار تعمير او روزنه ده.

د تعليم په ډگرکي زموږ د توجه محور کتاب او نصاب ندی، بلکي د ماشوم ذات او شخصيت دی.

هغه تعليم چي د هغه پواسطه موږ د ماشومانو د شخصيت په مناسبه طريقه روزنه او وده نه شو کولای، او هغوی ته د بامقصده ژوند په تيرولوکي مناسبه رهنمايي او لارښوونه ونه شو کړای. نو دا رنگه تعليم د اسلام له نظره عبث او فضول (بې فايدې) دی. د تعليم قرآني حکم دا دی:

(... يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ)

سوره بقره (۱۲۹) آيت

ترجمه:

يعني قرآن علم او حکمت د تعليم سره سره د انسان د نفس تزکيه هم غواړي. د سيرت يعني قرآن د علم او کردار د اصلاح نه پرته محض د علم حاصول بيکاره

---

(۱) - گټور

نو موږ باید داعي بالعمل وي نه یوازې داعي بالقول . لکه څرنګه چې خدای (جل جلاله) فرمایلي دي :

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾

ترجمه : (۴۴ آیت سورة البقره)

آیا تاسي خلکو ته په نېکۍ امر کوئ او حال دا چې ځانونه موهېر کړي دي او کتاب (قرآنکریم) هم لولئ ، نو ولې فکر نه کوئ او د تعقل څخه کار نه اخلئ .

نو ګرانو ښوونکو ! لکه څرنګه چې د خپل ځان په اسلامي اخلاقو جوړول ضروري خبره ده ، همدارنګه باید د شاګردانو د تعلیم په څنګ کې د هغوی تربیوي اړخ ته زیاته توجه وشي ځکه چې شاګردان هر وخت د ښوونکي د اعمالو تقلید کوي او دا سې مثال لري لکه : مُهر او موم ، په مُهر کې چې کوم نقش او چاپ وي هغه په موم کې معلومېږي .

همدارنګه شاګردان هم کوشش کوي چې خپل کړه وړه د ښوونکو په شان برابر کړي او دا کار په تجربو سره ثابت شوی دی .

او فضول دي .

د ماشوم د صحيح تربيت او د هغه د شخصيت د مناسبي روزني او ودي

وركولو لپاره د مناسب محيط تيارولو او په وخت باندي د هغي د رهنمائي او

لارښوونې لپاره ضروري ده چې موږ په ځپله د ماشوم د فطرت نه خبر تيا ولرو .

د ماشوم د فطري صلاحيتونو ، رجحاناتو[1] او د لچسپيو علم باید هم

ولرو ، د هغو ودې او نشونما د اساسي اصولو څخه ځان خبر کړو او هم د تدریس

غوره طريقي وپيژنو .

دا ځکه چې موږ ماشوم ته د ګټور علم د ورکولو سره سره د هغه د کړو

وړو جوړونه او د سيرت تعمير هم وکړای شو .

د روانشناسي (روحياتو يا نفسياتو) علم د تعليم او تربيې د ذلرشو ي

عملي د مؤثر كولو علم دی .

د روحياتو او روانشناسي تعلق انساني فطرت او كردار سره دی ، او د

انساني فطرت تشريح كوي .

روانشناسي ته په انگليسي ژبه كې د سيكالوژي (Psychology)

اصطلاح استعمال شوي ده او دا لفظ له دوه كليمو څخه مركب دی يعني :

(Psycho په معنی د روح) او (logos په معنی د بحث كول يا علم سره) .

نو د سيكالوژي لغوي معنی (د روح متعلق علم) دی .

باید ووایو چې د لته روح د هغې په مذهبي مفهوم کې نه دی استعمال

شوی بلکي د روح نه مراد نفس يا فطرت دی . ځکه چې الله ﷻ فرمايي :

وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ○
(۸۵ ایت سوره بنی اسرائیل)

[1] - اوښتنه ، زيا تښتنه .

ترجمه: اودوی پوښتنه کوي له تا څخه اې پیغمبره صلی الله علیه وآله وسلم چې روح څه شی دئ؟ ته ورته ووایه چې روح د الله تعالی یو امر دئ او نه دی درکړې شوی د علم څخه تاسو ته مګر لږ.

لدې څرګنده ده چې نو څخه دا رنګه وېلای شو:

هغه علم چې د انساني فطرت سره تعلق لري، یا هغه علم چې انساني فطرت او کردار تشریح کوي د روانشناسۍ په نامه یادېږي.

تعلیمي روحیات:

تعلیمي روحیات یا روانشناسي د روحیاتو د علم یوه ډېره زیاته مهمه څانګه ده. ددې تعلق د ماشومانو د فطرت او د ښوونځۍ په محیط کښې د هغوی کردار او چال چلند سره دئ.

تعلیمي روانشناسي د ماشوم د فطرت تشریح کوي او ددې علم په واسطې سره د ماشوم متوازنه او غوره روزنه تر سره کېدای شي. د تعلیمي روانشناسۍ جامع تعریف دادئ:

*"تعلیمي روانشناسي هغه علم دئ چې د هغو ټولو تغیراتو بیان کوي کوم چې په یوه ماشوم کې د پیدایښت نه تر ځوانۍ پورې په پرله پسې توګه د ودې په مختلفو مراحلو کې پېښه شوي"

تعلیمي روانشناسي د هغو حالاتو او محیط څخه هم بحث کوي چې هغه د ماشوم په روزنې او ودې باندې ښه یا بد اثر اچوي. ددې څېړنو څخه دې نتیجې ته رسېږو چې د تعلیمي روانشناسۍ خاصه موضوع د انساني فطرت او د هغې د کردار او کړو وړو مطالعه ده.

تعلیمي روانشناسي د هغو طریقو ښودنه کوي د کومو په واسطه چې د تعلیم او تربیې مقاصد او اهداف په ښه او غوره توګه تر لاسه کېدای شي.

همدارنګه تعلیمي روانشناسي د داسې محیط او لاروچارو د اختیارولو او

تیارولو توصیه کوي چې د ماشوم د پوره شخصیت د مناسبې روزنې او بالنې لپاره ضروري او سازګاره وي . د دې علم څخه د ګټې اخیستلو نه پرته د تعلیم او تربیې اهداف په ښه او مؤثره توګه نشو ترلاسه کولای . نو د دې علم د غوښتنو سره سم باید د ماشوم د فطرت او کردار په هکله غوره معلومات ولرو او د هغې د شخصیت د مهمو برخو او مختلفو حالاتو څخه باخبره او سو .

د شاګردانو پېژندنه :

پوهېږو چې زده کړه د فکر ، درک ، احساس او عمل څخه یوه مرکبه عملیه ده او څومره چې پکښې د زده کوونکي حواس زیات دخیل وي - په همغه اندازه زده کړه ښه صورت نیسي .

که وغواړو چې یو څه په خپله خوښه په زده کوونکو زده کړو نو دا کار له امکان نه لیرې بریښي ، ځکه چې شاګرد دا او بو د سطحې په خبرندی چې که کله وغواړو د او بو څخه یې درک کړو ، نو درک کولای یې شو .

نو د مطلب د حصول لپاره مجبور یو چې لمړی زده کوونکي د درس او زده کړې لپاره آماده او تیار کړو او بیا ورته درس شروع کړو .

او س که موږ زده کوونکي ته خامخا درس وایو ، په داسې حال کښې چې د هغې قبلي آمادګي او تیاري په نظر کښې نه نیسو نو دا به زموږ لویه اشتباه او سهوه وي . نو لدې کبله غوره ، پوه او تجربه کار استادان هم هغه دي چې ماشومان مخکښې له تدریس څخه درس ته چمتو او آماده کړي ، یعنې د هغو ټول هغه حالات او عوامل په لاره پر غور او دقت سره درک کړي او بیا د هغو په تغییر کښې هڅه وکړي کوم چې د شاګرد په نورمال تدریس کښې خنډ واقع کوي او د ښې زده کړې مخنیوی یې کوي ، کیدای شي چې دا عوامل عبارت له خفګان ، لوږې ، ناروغۍ او بدنې عیوب ، غصې ، وېرې ، سبقت (د ځای اودتن) ، نفرت ، ستومانې ،

حسادت او کینه ، شوخي ، بې علاقه ګي ، ضعیف اصول تدریس او داسې نور وختونه وي .

یعنې غمګین او خفه ، وږی ، ناروغ ... ما شوم هیڅکله زده کړه نشي کولای ، نو ښکاره ده چې له تدریس څخه د مخه نو موړي عوامل منتفي (لیرې کړای) شي ، او بیا په تدریس لاس پورې شي او هم د تدریس په وخت کښې نرمي ، ښه راشه درشه ، ښلونی سلوک او محبت تر آخره پورې باید په نظر کښې وساتل شي .

همدا رنګه د تدریس څخه د مخه د شاګرد په هکله چې کوم شی خورا زیات اهمیت او ارزښت لري ، هغه د شاګرد پېژندنه ده . هر ښوونکي ته ښکاره دي چې دلاندې ارخونو په اساس خپل شاګردان وپېژني :

۱ :ـــ د شاګرد عمر .

۲ :ـــ د شاګرد ولي یا سرپرست (پلار) : (سرپرست لري که یتیم دی ، مور لري که مړه ؟) .

۳ :ـــ د ولي یا سرپرست وظیفه .

۴ :ـــ د شاګرد اقتصادي وضعه (اعلیٰ ـ متوسط ـ ادنیٰ) .

۵ :ـــ د شاګرد د ژوند او او سېدو ځای (ښار ، کلی ، کور ، ...) .

۶ :ـــ د شاګرد د کور او مدرسې ترمینځ واټن (فاصله) : (لرې والی ، نږدې والی ، نقلیه وسایل) .

۷ :ـــ آیا په کور یا جومات کښې یې سبق ویلی ، که نه ؟ (مخکښې زده کړه) .

۸ :ـــ د شاګرد صحي وضعه .

۹ :ـــ د شاګرد د ملګرو پېژندل .

۱۰ :ـــ په خپل شخصي کورکې ژوند کوي او که په کرائی یادګاوندیتوب (بې کرائی) کورکې ، آیا د خښلو وړ او مناسبې اوبه لري که نه ...

۱۱ :ـــ د شاګرد استعداد او پوهه : (سویه) .

۱۲ :ـــ د شاګرد هیجانات (جذبات) .

۱۳: ــ د شاگرد علاقمندي او دلچسپي .

۱۴: ــ د شاگرد فردي اختلافات .

۱۵: ــ ژبه (پښتو، دري ...) او نور .

باید وویل شي چې د زده کوونکو د پېژندنې وړاړخونه چې یو ښوونکی ترې خبرتیاولري ډېر زیات دي . خو هغه مهم ټکي چې پدې هکله مو په پورته ډول ذکر کړل باید د محترمو ښوونکو د پام وړ وګرځي او هریو سره تحلیل کړي او ځکه لازمه ده چې زده کوونکي تر درس او تدریس لاندې نیسي ، هڅه دې وکړي چې هغوی د پورتنیو ټکو پر اساس لمړی سره وپېژني او د هغو په هکله دې د هر اړخیزه او غوره معلوماتو خاوند وي تر څو تدریس یې ضایع او عبث نه شي .

که چیرې د ځینو ښوونکو په درسي مشکلاتو نظر واچوو، نو څرګنده ده چې زیات مشکلات او ستونزې د پورتنیو توضیحاتو او لارښوونو د نه عملي کولو څخه سرچینه نیسي . ځکه چې زیات ښوونکي داسې وي چې د زده کوونکو په هکله هیڅ فکر نه کوي او صرف خپل درس مخ په وړاندې بیایي ، چې د دا رنګه ښوونکو د زیات کار او فعالیت څخه د پام وړ او مثبت نتیجه په لاس نه راځي .

بر عکس یو کم شمېره ښوونکي چې هغوی د درس او تدریس څخه مخکښې د خپلو زده کوونکو د پېژندګلوۍ اړخ ته توجه ساتي او بیا په تدریس کښې د شاګرد استعداد ، ذوق او علاقه او مزاج ته پاملرنه کوي او هم خپل درسي فعالیتونه د هغو د لچسپیو او غوښتنو په ارتباط عیارو وي او بالاخره درس د شاګرد لپاره کوي او شاګرد د درس لپاره نه کوي : (په اول صورت کښې د استاد هدف د شاګرد رسول او په دوهم صورت کښې د پروګرام رسول دی .)

نو یقیني ده چې دا راز ښوونکي په خپلو دندو کښې بریالي وي او د دوی کار او فعالیت څخه یې زیاته ثمره مرتب کېږي .

د زیات وضاحت لپاره په لمړي قدم کې د زده کوونکو د ځوانۍ د قبلي ، زده کړې او معلوماتو او بیا د ماستوماتو او ځوانانو د ښوونې او روزنې د عملیې د تو پیر په هکله

مثالونه را وړو :

زده کوونکي مخکښې له دې چې ښوونځي ته راشي يوه اندازه پوهه، معلومات اوخبرتيالرې چې د مثال په توګه د ژبې (لسان) اود ينيات په مضامينو کښې د زده کوونکو پخوانۍ پوهه څېړو :

لسان

١:- خبرې کول.
٢:- غوږ نيول.
٣:- د الفبا څينې توري پېژني.
٤:- د الفبا څينې توري ليکلى هم شي.
٥:- د الفبا څينې توري لوستى هم شي.
٦:- کتاب او قلم پېژني.
٧:- د الفبا څينې توري يې هيڅ نه وي لوستي.

دينيات

١- د خداى جل جلاله نوم يې ياد وي.
٢- د دين نوم يې ياد وي.
٣- د پيغمبر صلى الله عليه وسلم نوم يې ياد وي.
٤- کلمهٔ طيبه يې زده وي.
٥- اودس او لمونځ کول يې ليدلي وي.
٦- اذان يې اوريدلى وي.
٧- جومات ته تللى وي.
٨- روژې نيول يې ليدلي وي.

يعني يو ښوونکى بايد پدې پوه وي چې شاګردان يې مخکښې لدې چې ښوونځي اومدرسې ته راشي په يولړ شيانو پوهېږي.

که د داسې پوښتنې سره مخامخ شو چې : د عمر د کومې مرحلې خاطرې موښه په ياد پاتې دي؟ ځواب به يې داوي چې د ځوانۍ يا له هغې څخه د وروسته مرحلې دا ځکه چې د ماشوموتوب د وخت خاطرې هېرې وي، نو واضحه ده چې د ماشوموتوب اوځوانۍ دد ورې زده کړه سره فرق لري، يعني د ماشومانو اوځوانانو ترمينځ په زده کړه کښې توپير وي.

اوس تاسو ديو ښه ښوونکي په توګه دوه ګروپه زده کوونکي لرئ : ماشومان اوځوانان، د هرګروپ لپاره د مېين د خطراتو موضوع څرنګه تدريس کوئ :

ماشومان	ځوانان
مېن د ېرخراب شی دئ . انسانان وژني، کورنه موټراو هر شی خرابوي.	مېن پوله خطرناکو جنګي وسلو څخه دئ، وژونکی او تخريب کوونکی وي.
پر دوه ډوله دئ : ورو کی ئې دسړي د وژلو لپاره او د ورو شيانو لپاره، او لوی ئې دموټرا و لويو شيانو لپاره .	پر دوه ډوله وي : د پرسونل ضد او د ټانګ ضد، موټرا و نورو.
واړه مېونه ټيت شوي وي او لوی مېونه ښخ وي، ترڅو ونه ليدل شي	د پرسونل ضد مېونه د خلکو پواسطه طيارو، ټانګو نواو موټرو څخه شيندل کيږي او د ټانګ ضد مېونه په محکم کې ځای پرځای کيږي.
هر يو يې په څو ډوله وي : شيندل شوي او ټيت شوي شيان وانه خلئ په هر رنګ چې وي لکه د قلم، ژاولو، د لوبو شيانو او نورو غوندې .	هر يو له د غو څخه څو څو ډوله لري: لنو له شکمنو شيانو څخه ځان وساتئ.

له پورتنيو څرګند ولو څخه دې نتيجې ته رسيږو چې د ماشومانو او ځوانانو ترمينځ د سبونې او روزنې په عمليه کې توپير وي چې دا توپير په لاندې ډول بيانيږي :

ماشومان	ځوانان
۱ : — ماشومان د نورو تابع وي .	۱ :— ځوانان د ماشومانو په پرتله مستقل وي .
۲ : — ماشومان بايد هغه څه ز ده کړي چې ضرورت ورته لري .	۲ : — هغه شيان چې ځوانان ئې زده کول غواړي بايد په هغې کې ورسره کمک وشي .

٣: ـــ ماشومان مستقیماً د خپل ښوونکي څخه زده کړه کوي او اخلي يې.

٤: ـــ ښوونکی تصمیم نیسي چې ماشومان څه ولولي او څه زده کړي.

٥: ـــ د ماشومانو لپاره مضمون د زده کړې مرکز دی.

٦: ـــ ماشوم د راتلونکي (آینده) لپاره زده کړه کوي. یعنې ماشوموالی د تیارۍ او آمادګۍ مرحله ده.

٣: ـــ ځوانان یوازې له ښوونکي څخه زده کړه نه کوي، بلکې پخپلو کې د یو او بل څخه هم زده کړه کوي.

٤: ـــ ځوانان پخپله تصمیم نیسي چې څه ولولي او څه زده کړي.

٥: ـــ د ځوانانو لپاره د مشکلاتو او پرابلمونو حل د زده کړې مرکز دی.

٦: ـــ ځوانان د اوس (حال) لپاره زده کړه کوي. یعنې اوس چې کوم شیانو ته ضرورت لري او غواړي چې زده یې کړي او پرې پوه شي.

د ماشوم د تربیتي ودې مراحل

د روزنې او تربیې مراحل:

که ښه ځیر شو، نو وینو چې ماشوم د عمر په اولو اوو (٧) کلونو کښې د مور او پلار لپاره لکه یا دارا او یا د شاه وي او والدین مجبور دي چې د هغه غوښتنې په صمیمانه توګه اجراء کړي.

د عمر د دویمو اوه کلونو (٨ – ١٤ کلونو) کې د مربي په خپل خدمتګار منونکي او لکه ورور هسې وي او هیڅ ډول مخالفت نه ښیي چې همدا یې د روزنې ډېره ښه دوره ده.

په دریمو اوه کلونو (د ١٥ – ٢١ کلونو) کې نه شاه وي او نه مریي. هغه د تکامل مرحلې ته رسېدلی وي او د عقل او احساساتو له مخې په آزاد ډول ژوندانه کښې –

واقع شوی وي . له دې کبله هغه باید دکورنۍ دمشا ورا و سلاکار په توګه وي او دکورنۍ مشر په کار ، رونو کښې د هغه شخص مشوره او رائیه واخلي او د هغه د مثبتې رائې څخه استفاده وکړي ، غلطۍ او خطا ګانې دې په د وستا نه د ول اصلاح شي ، کله چې یوویشت (۲۱) کلنۍ ته رسیږي په دا سې حال کښې چې اخلاق یې غوره وي ، نو روزونکی خپل هدف ته رسیدلی دئ او له دې څخه زیات خوندا ولذت وړي .

نو کولای شو چې روزنه په دوه مرحلو وویشو :

اوله مرحله : دا مرحله د ژوند په اولنیو یوویشت (۲۱) کلونو پورې اړه لري . په دې مرحله کې د والدینو وظیفه د اولاد په نسبت ډېره مهمه ده ، دا دوره د ودې د خصوصیا تو له مخې په دریو دورو وېشل کیږي چې هره دوره د خپلو خواصو په اساس ځانګړې روزنې ته ضرورت لري ، نو د والدینو او ښوونکو وظیفه ده چې د ماشوم د هرې دورې لپاره خاصه ښوونه او روزنه په نظر کښې ولري .

نو موړې درې دورې په خپل وار سره په دریو وړو مرحلو وېشل کیږي لکه چې د زده کړې له نظره د ماشوم د ۱-۳ کلنۍ ودې بهیر او برداشت ، د هغې د عمر د ۴-۵ او ۶ کلنۍ مودې په پرتله توپیر لري ، همدارنګه ماشوم او شاګرد د ۵-۶ او ۷ کالو ترمینځ موده د ښوونې او روزنې له نظره د هغې ۸-۹ او ۱۰ کلنۍ مودې سره فرق لري . همدارنګه دا توپیرونه دوام کوي ترڅو چې د عمر د ۱۰ کلنۍ څخه تر ۲۱ پورې ورسیږي .

دویمه مرحله : د یوویشت کلنۍ له آخره د عمر تر پایه پورې د ۵۰ . په دې مرحله کښې انسان پخپله د خپل ځان مسئول وي او باید پخپله د ځان او شخصیت په جوړولو کې زیار وباسي .

باید وویل شي چې اجتماع او ټولنه هم پخپل وار سره په دې دواړو مرحلو کې دغه په روزنه کې وظیفه لري.

په عمومي توګه ویلای شو چې والدین، روزونکي او اجتماع د صراط المستقیم په لور د انسان په جوړونه او ساتنه کې خورا درونده مسؤلیت لري.

د اسلام له نظره کولای شو د عمر لومړني پړاو پیښت کلونه د اجباري زده کړې د دورې په نامه یاد کړو چې د الله ﷻ په وړاندې پر والدینو د اولاد حق دی، تر څو دغه په ښوونه او روزنه کې زیار وباسي او ټولنې ته نېک، صالح او ښه کړه وګړي تقدیم کړي، څو که بیا هم د پام او کوشش سره مطلوبه نتیجه په لاس ورنه شي نو د الله ﷻ په نزد به مور او پلار مقصر نه وي.

که څه هم د دا دوره اوږده انتخاب شوېده خو بیا هم له واقعیت څخه لرې نه برېښي، ځکه چې اسلام دې ته پام لرنه لري چې د دې دورې تر آخره پورې انسان د روند تېرو لو لپاره په پوره توګه تیاری او چمتو والی ولري او وشي کولای چې په ځانګړې توګه د ژوند او ټولنې سره اړه لرونکي مسایل د مشرانو او والدینو د لارښوونې او مرستې څخه پرته حل کړي.

د اسلام د مبارک دین د غه نظر خورا پوخ بنسټ او اساس لري او ځینو نورو ټولنو او د مختلفه فکر والاخلکو لدې فلسفې او نظر یې څخه ګټه اخیستې ده، د مثال په توګه:

د فرانسي په مدني قانون کښې یې د بلوغ آخرنۍ حد د نجونو لپاره (۱۸) کاله او د هلکانو لپاره (۲۱) کلني قبوله کړې او د مور او پلار څارنه یې شرط ګڼلې ده.

له نېکه مرغه په اسلام کښې د والدینو تر سرپرستۍ او څارنې لاندې ځوانانو ته اقتصادي او اجتماعي آزادي ورکړه شوېده او که چېرې د ودې او پخنګۍ مرحلې ته رسېدلي وي کولای شي په سیاسي مسایلو کښې اشتراک وکړي، د جهاد د ګر قومانداناڼ وي، مشورې ورکړي او تصمیم ونیسي.

ښوونکی او تدریس

کله چیرې ځینې خاص صفات او مشخصات بیان کړو او یا یو خاص قالب او محدوده په نظر کې ونیسو او بیا یو شخص په نوموړې محدوده او چوکاټ کې ځان واچوي او ټول شرایط یې پر ځان قبول او عملي کړي نو آیا نوموړی کولای شي چې د معلم په نوم یې یاد کړو ؟

نو ددې لپاره چې د ښوونکي د مقدسې وظیفې سره ښه آشنایي حاصله کړو لومړی باید ښوونکی وپېژنو چې ښوونکی څوک دی ؟

د ښوونکي تعریف :

د ښوونکي په هکله علماؤ ډېر تعریفونه کړي دي چې ځینې مهم یې په لاندې ډول را نقلوو :

I – ښوونکی هغه څوک دی چې د شاګرد سره په زده کړه کې کمک کوي او د ښې زده کړې زمینه ورته برابروي د مثال په ډول :

الف :– د زده کړې لپاره امکانات او منابع برابروي ، ب :– د زده کړې لپاره زمینه برابروي ، ج :– د زده کړې طریقه ورښیي .

II :– ښوونکی هغه څوک دی چې د یوې ټولنې فرد او یا افرادو ته د پوهې انتقال کوي او د هغوی په سلوک او کړو وړو کې مطلوب او مثبت تغییر راولي او مهارتونه یې پیدا کوي .

III :– ښوونکی هغه څوک دی چې د درس او تدریس له لارې معلومات او سلوک د زده کوونکو د ماغونو ته انتقالوي .

د ښوونکي کار د ټولنې د بل هر فرد په نسبت حساس او مهم دی ، ځکه چې ښوونکي د افرادو تربیت او په هغوی کې د مطلوبو خصوصیاتو د پیدا کولو او بالاخره د هغوی څخه د ټولنې د سالموا وګټورو اعضا وود

د ۲۱ کلنۍ ښځه وروسته مرحله :

د ژوند په دوهمه مرحله یعني د ۲۱ کلنۍ د آخرې ښځه د عمر تر پایه پورې ځینې مسایل او جوانب مطرح دي چې د خلکو په ژوند باندې پوره ول اغېزه اچوي .

د وخت په تېرېدو سره د هغو محیط او نورو امکاناتو ته تغیر ورکوي نو لدې کبله ښځه باید د غوره افکارو او صحیحې عقیدې د تحفظ او ساتنې لوی عامل وي او خلکو ته د سقوط او پرځېدو څخه نجات ورکړي .

کولای شو چې دا دوره هم دلویوالي (بزرګۍ) پوخوالي (پخنتګۍ) او زړښت (پیرۍ) په درېیو دورو وویشو چې هره یوه دوره ځانته غوښتنې لري او انسان په هغې کې د یوه خاص تفکر، روحیې او روش (طریقې) لرونکې وي .

د تجربو درلودنه، معلومات، د معلوماتو اندازه، خبرتیا، اقتصادي، فرهنګي او سیاسي وضع چې یو انسان په ماضي او حال کښې پکښې غوټې وهي د هغې د ژوند په روش او طریقه کښې اثر غورځوي .

د زیاتې استفادې او د موضوع د ښې روښانتیا لپاره د انسان د رشد او ودې مراحل په لاندې جدول کښې په پرله پسې توګه خو په لنډو وقفو کښې کتلای شو :

گڼه	مرحلې او دورې	عُمر
۱	د کوډکۍ (کشکي توب) دوره	د زېږېدو څخه تر ۳ کلنۍ پورې.
۲	د وړوکتوب (ماشوم توب) اوله دوره	د ۳ څخه تر ۶ کلنۍ پورې.
۳	د وړوکتوب (ماشوم توب) دویمه دوره	د ۶ څخه تر ۹ کلنۍ پورې.
۴	د تنکي ځوانۍ (بلوغ) اوله دوره	د ۹ څخه تر ۱۴ کلنۍ پورې.
۵	د زلمیتوب (ځوانۍ) دوره	د ۱۴ څخه تر ۱۸ کلنۍ پورې.
۶	د کبارت (پخې ځوانۍ) دوره	د ۱۸ څخه تر ۲۵ کلنۍ پورې.
۷	د رجلیت (پاخه سړیتوب) دوره	د ۲۵ څخه تر ۴۰ کلنۍ پورې.
۸	د میانه سالۍ (سپین ږیریتوب) دوره	د ۴۰ څخه تر ۶۰ کلنۍ پورې.
۹	د کهولت (زوړوالي) شروع	د ۶۰ څخه تر ۷۰ کلنۍ پورې.
۱۰	د اصلي کهولت (بوډاتوب) دوره	د ۷۰ څخه تر مرګه پورې.

د زده کړې څلور اساسي اصول

ولې شاګردانو ته درس ورکوو ؟

د علم زده کړه پر مونږ فرض ده او د اسلام
په مقدس دین کې لوړ مقام لري :

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ
الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا
(سورة بقره ٢٦٩ آيت)

ورکوي الله (ج)، علم هغه چاته چې وغواړي
او هغه چاته چې علم ورکړل شو په تحقیق سره هغې
ته لویه درجه او خیر ورکړل شو .

په مسجد قبا کې د اصحابو کرامو دوه ډلې
وې په ذکر او بله ډله په تعلیم بوخته وه، پیغمبر
(ص) تشریف راوړ او په هغوی یې سلام وا
چاوه . دواړه ډلې یې وستایلې او بیا په د تعلیم
په حلقه کې کښیناست او وې فرمایل چې دواړه
ډلې ښه کار کوي اما زه معلم رالیږل شوی
یم . (بُعِثْتُ مُعَلِّمًا) .

څرنګه درس ورکړل شي ؟

په تدریس کې نرمه لهجه او
مهربانۍ زیات اثر لري .
رسول الله (ص) فرمایلي :

لِينُوا لِمَنْ تُعَلِّمُونَ وَلِمَنْ
تَتَعَلَّمُونَ مِنْهُ .

یعنې نرم او مهربانه اوسئ
په هغه چا باندې چې درس
او تعلیم ورکوئ او د هغه
چا سره چې درس ورځنې
لولئ .

څه شی باید درس ورکړل شي ؟

هغه شیان باید درس ورکړل شي چې د
هغې په واسطه شاګردان د الله (ج)، په
وحدانیت د حضرت محمد (ص)، او
انبیاوو په رسالت، د دین په اسا
ساتو او احکامو او د اوامرو او
نواهیو په هکله ښه پوهه پیدا کړي.
د ګټور علم څخه د خپل ځان او نورو د
ژوند لپاره ځانګړې ګټه واخلي او
په نتیجه کې پوه او صادقه خدمت
ګاران ټولنې ته وړاندې کړي.

چاته باید درس ورکړل شي ؟

اول باید د زده کړې
او درس ورکولو زمینه
برابره شي او شاګردان
د جسمي او روحي
مطالعې څخه وروسته
تر تدریس لاندې و
نیول شي .
موانع او مشکلات د
منځه لیرې شي او
بیا په ښه او مناسبه
طریقه درس ورکړل شي.

شپږم فصل

درسي مواد

هغه سمعي او بصري شيان او وسايل چې د ښوونکي او زده کوونکو سره د درس د هدف په لاسته راوړلو کې مرسته کوي درسي مواد بلل کېږي.

یا په بل عبارت: هغه شیان چې په زده کړه کې د ښوونکي او زده کوونکي لپاره آسانتیا پیښوي د درسي موادو په نامه یادېږي.

مثلاً: یو سړی غواړي چې شل (۲۰) کیلو متره فاصله ووهي، که نوموړی سړی پخپلو پښو ځي، لږ تر لږه (۲) ساعته وخت ورته بکار دی، که د وسایلو څخه کار واخلي نو په کم وخت کې به خپل منزل ته ورسېږي.

مثلاً: مختلف وسایل په نظر کې ونیسو.

که د بایسکل څخه استفاده وکړي، ممکن په یوه ساعت کې خپل منزل ته ورسېږي، او که د موټر څخه استفاده وکړي، ممکن په نیم ساعت کې ورسېږي، او که چېرې د ټیلفون څخه د خپل مشکل د حل لپاره استفاده وکړي، نو امکان لري چې په یوه دقیقه کې خپل هدف ته ورسېږي.

که پورتني مثال ته ځیر شو نو ښکاره ده چې وسایل موږ ژر او په کم وخت کې خپل هدف ته رسوي، او هم د وسایلو او موادو له جملې څخه باید هغه وسایل وټاکو چې موږ په ډېر کم وخت کې خپل منزل (هدف) ته رسولای شي.

ددې لپاره چې موږ په خپل تدریس کې په آسانۍ سره هدف ته ورسېږو، باید په تدریس کې د ګټورو او مؤثرو درسي مواد و څخه استفاده وکړو.

د درسي موادو په انتخاب او برابرولو کې باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسو:

۱: ـــ درسي مواد باید ساده (آسانه) او ارزان وي.

۲: ـــ درسي مواد باید د درسي موضوع مطابق تهیه شي.

۳: ـــ درسي مواد باید د ټولګي د هرې نقطې څخه د لیدلو وړ وي.

مثلاً: د اجتماعیاتو په مضمون کې کېدای شي چې جزیرې، آبنا، خاکنا او داسې نورو موضوع ګانو د تدریس لپاره د اوبو او خاورو څخه استفاده وشي او یا دا چې د کانو، جوارو، لوبیا، قلمونو او کوچنیو-کوچنیو لرګیو څخه استفاده وشي، او همدارنګه د چوټ د جوړولو لپاره د ونو د څانګو او وړو لرګیو څخه چې د کارک دلرګي په قسم نرم وي استفاده وشي.

مونږ د ښوونکو په صفت ګورو چې ښه مواد و تدریس د په فرق لري، حتی ځینې وختونه تدریس ښه مواد و څخه سخت او ګران ګرځي.

څرنګه چې درسي مواد په تدریس کې د پر مهم رول لري، نو پدې لحاظ د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره باید له ښو او مؤثرو موادو څخه په تدریس کې کار واخیستل شي.

د موادو انتخاب او تهیه کول د ښوونکي په ابتکار، مسلکي پوهې، محیطي شرایطو او د درس په موضوع پورې اړه لري.

هغه درسي مواد چې ښوونکی او زده کوونکي د تدریس په وخت کښې له هغو څخه کار اخلي عبارت دي له: کتاب، قلم، تباشیر، تخته پاک تخته، سپینه خاوره، رنګ او داسې نور.

د درسي موادو اقسام:

درسي مواد په دوه ډوله دي: یو استهلاکي او بل غیر استهلاکي دي.

۱: ـــ استهلاکي: ـــ لکه تباشیر، کاغذ، رنګ، سپینه خاوره او داسې نور.

۲: ـــ غیر استهلاکي: ـــ لکه تخته، تخته پاک، چارت، نقشه، فلش چارت، کارت، فلش کارت، تصویرونه، موډلونه، د موضوع لنډیز، ګرافونه، پوسترونه،

نقشې، سلايډونه، فلمونه، پرجکتوردچې دامواد اکثره د تعليم او تربيې له طرفه مدرسو ته تهيه کيږي. (١)

چارټ: هغه بصري مواد دي چې د درس موضوع د الفاظو، جملو، او کلمو په شکل واضح کوي.

فلش چارټ: هغه بصري مواد دي چې د درس موضوع د تصوير په شکل واضح کوي.

کارټ: هغه بصري مواد دي چې د موضوع يوځن د کلمې يا لفظ په شکل وښيي.

فلش کارټ: هغه بصري مواد دي چې د موضوع يوځن د تصوير په شکل واضح کوي.

تصويرونه: د دې لپاره چې شاګردانو ته موضوع روښانه او په زړه پورې شي - ښوونکي ترې د تدريس په وخت کښې استفاده کوي.

ښوونکي بايد د تصويرونو په هکله داسې فکرونه کړي چې هرڅوک يې ببيني، يوزيات تعداد خلک سته چې د تصويرونو په برخه کې خبرې نشي کولای.

موډلونه: موډل په لغت کې نمونې ته وايي، او په اصطلاح کښې ديوه اصلي شي مصنوعي او جوړ شوي جسم ته ويل کيږي.

د موډلونو د استعمال اساسي مقصد دادی چې زده کوونکو ته د عملي کارونه مخکښې تجارب او تمرينونه برابر کړی شي، مثلاً که موضوع دانسان دماغ وي، نو ښوونکی کولای شي چې د دماغ موډل څخه استفاده وکړي.

همدارنګه د کيميا، فزيک، بيولوژي د تدريس په وخت کښې د ډول ډول جوړ شوو موډلونو څخه کار اخيستلی شي.

څرنګه چې موډلونه په آسانۍ سره نشي پيدا کېدای او ډېر قيمتي وي

---

(١) که د خدای (ج) رضاوي د پروجکتورا و فلم په څېرنتيان به په آزاد لوآباد افغانستان کې هم استعمال کړي و.

باید چې د ښوونکي له خوا ښاگردانو ته د ساده محیطي موادو څخه موډلونه جوړ او په درسي موادو کې ترې استفاده وکړي.

د موضوع لنډیز:

د موضوع لنډیز د درسي موادو په توگه د تدریس ښه کولو یوه لاره ده چې ښوونکی د مهمو ټکو په نظر کې نیولو سره د موضوع لنډیز د کاغذ پر مخ لیکي او استعمالوي یې.

هر ښوونکی باید د موضوع پر لنډیز کښې لاندې نقاط په نظر کې ولري:

۱: ـ په ټوله موضوع په لنډه ډول رڼا واچوي.

۲: ـ مهمې نقطې یې د ځان سره ولیکي.

۳: ـ شکلونو او تصویرونو ته یې ځای ورکړي.

۴: ـ موضوعات مسلسل او په منظم ډول لنډ کړي.

۵: ـ په ساده ژبه یې ولیکي.

۶: ـ که ضروري او لازمي وي گرافونه یې رسم کړي.

گرافونه:

د گرافونو څخه د یوې موضوع د کمیت او کیفیت د ښودلو لپاره کار اخیستل کېږي او په احصائیه او طب کې ډېر استعمالېږي.

همدارنگه د یوه شي تعداد، وخت، مقدار، عمر او وزن په آسانۍ سره د گراف په توگه ښودل کېږي.

پوسترونه:

هغه شکلونه او تصویرونه چې د کاغذ پر مخ په مختلفو رنگونو جوړ شوي وي ـ پوستر بلل کېږي. پوستر کېدای شي چې یو تصویر وي یا زیات تصویرونه ولري ـ خو باید ښوونکی کوشش وکړي هغه پوستر چې د یوې خاصې موضوع نمایندگي وکولای شي استعمال کړي.

نقشې : نقشه د درسي موادو له جملې څخه ده چې د کاغذ پر مخ کښل شوې وي او د جغرافيوي موضوعاتو او پر انجنيري ساختمانې چارو کې په کار وړل کېږي .

سلايډونه : سلايډونه د منظمو مستطيل يا مربع شکله شيشو څخه عبارت دي يا يوه شفافه (شيشه ئي يا پلاستيکي) لوحه ده چې نور ترې تېرېداى شي .
سلايډونه ديوې درسي موضوع په روښانه کولو کې د پر رول لري ، او په طب کښې د کيميا او بيولوژي په لابراتوارو کښې د مايکروسکوپي معاينو لپاره زيات استعمالېږي .

فلمونه : فلمونه د ژوند د مصنوعي او حقيقي صحنې فلم اخيستل او هغه بيا د پردې پر مخ ښودل دي .

پروجکتور : هغه ماشين دئ چې کولاى شي عکاسي شوى يا رسم شوى سلايډ او د کاغذ پر مخ ليکلي يا رسم شوى شي د پردې يا دېوال پر مخ څوځله لوى او واضح ښکاره کړي . لنډه دا چې ښه درسي مواد و څخه تدريس ښه نتيجه لري .
حکه چې : او ر بدل هېر بدل دي - ليدل زده کول دي . کول يو هم بدل دي .
په ښوونځى کښې عملي زده کړه کول له شاگرد سره مرسته کوي چې خپله پوهه د ښوونځى نه د باندې په خپل ورځني ژوند کښې په کار واچوئي .

هغه اساسي ټکي چې د درسي موادو د استفادې په وخت کې بايد په نظر کې ونيول شي عبارت دي له :

١ : — تنها هغه د اړتيا وړ او مناسب مواد او لوازم چې ښوونکى يا زده کوونکو يو گروپ هغه د استفادې لاندې نيسي - تولگي ته راوړل شي .

دغه مواد باید د زده کوونکو علاقه ځانته جلب کړي . د ګروپ غړي ورباندې وپوهېږي او هغه خوښ او قبول کړي ، یعنې درسي مواد او لوازم دارنګه وي چې د زده کوونکو سره د زده کړې په مسئلو کې کومک وکړي .

درسي مواد هغه وخت ګټور او مؤثر تمامېږي چې د یوه درس د معنیٰ په واضح کولو کې او هغه مفهوم چې ښوونکی او شاګردان د هغو په لټه کښې وي د هغه په لاسته راوړلو کې کومک وکړي .

۲ : — درسي مواد د مختلفو مقاصدو لپاره په مختلفو طریقو استعمالیدای شي . درسي مواد په ټولګي کې د شاګردانو د بحث او مناقشې لپاره په کار وړل کېږي او د زده کوونکو د دلچسپۍ او علاقې سبب ګرځي او هغوی د زیاتې مطالعې لپاره تشویقوي .

۳ : — پس له هغه چې د موادو څخه مو استفاده وکړه ـ باید په ډېر احتیاط سره وساتل شي ، تر څو بیا راتلونکي وخت کښې هم استفاده ځنې وشي .

اوم فصل

امتحان او ارزيابي

۱:- امتحان :

د ښوونې او روزنې هدف دا دی چې د فرد يا افرادو لپاره مفيد کار سرته ورسول شي. مؤثر او مفيد کار هغه وخت کولای شو چې د فرد يا افرادو په باره کې کافي معلومات ولرو، مثلاً که وغواړو چې يو شاگرد په رياضي کې د جمعې په عمليه کې مشکلات لري نو پدې صورت کې لازمه ده چې يو سلسله معلومات ولرو چې له موږ سره د مشکل د حل لپاره د تصميم نيولو په هکله مرسته وکړای شي.

هرڅومره چې د فرد يا افرادو په باره کې زموږ معلومات زيات وي، په همغه اندازه زموږ تصميمونه د هغوی په هکله صحيح او معقول دي.

يا په بل عبارت څومره چې موږ فرد يا افراد ښه وپيژنو په همغه اندازه به د هغوی د مشکلاتو د رفع کولو په برخه کې زموږ فيصله عاقلانه وي.

د افرادو له پيژندنې څخه هدف د هغو جامع او درست تعريف او توصيف دی. په حقيقت کې امکان ميسر کيږي چې د هغوی د راتلونکي سلوک په باره کې معقول تدبير ونيسو.

معقول تدبير او سنجش د افرادو د کړو وړو (رفتار او سلوک) په برخه کې د علمي شواهدو او راټولولو ته ضرورت لري. علمي شواهد په دقيقو او مؤثقو سنجشونو او اندازه گيری باندې متکي دي.

امتحان د اندازه گيری يوه خاصه وسيله ده چې د امتحان ورکوونکي شخص

جوړولو مسئولیت په غاړه لري .

نوښوونکی باید د خپل تدریس په وخت کې د غه لاندې نکات په نظر کې وساتي :

الف ــ د څه لپاره تدریس او ښوونه کوي (هدف) ؟ .

ب ــ د څه شي تدریس کوي (موضوع) ؟ .

ج ــ چا ته تدریس او ښوونه کوي (د شاګرد پېژندنه) ؟ .

د : ــ څرنګه باید تدریس او ښوونه وکړي (د تدریس اصول) ؟ .

د تدریس تعریف :

هغه فعالیتونه چې د ښوونکي څخه زده کوونکي ته د پوهې د انتقال سبب ګرځي تدریس بلل کېږي . د تدریس مهم عناصر په لاندې ډول دي :

الف ــ ښوونکی . ب ــ زده کوونکی . ج ــ د تدریس مېتود (طریقه) .

د ــ درسي مواد .

د ښوونکو ډولونه او طبقه بندي :

د دې ټکي یادونه ضروري ده چې ډېر لږ امکان لري چې کوم ښوونکی دې په بشپړ ډول په یوه خاصه طبقه کې راشي . بلکه د انساني خویونو په لحاظ هر معلم امکان لري چې د هرې طبقې یو یا څو خویونه ولري . سربېره پر دې دا هم هېڅکله نه شي منل کېدای چې یو معلم د ډېرو کلونو په اوږدو کې یو شان او یو ډول سلوک ولري . ځکه چې انسان تغییر او تکامل کوي .

د معلمي تجربه یې د یو شا نته والي څخه راباسي نو ځکه هر ډول تغییر پکې راتلای شي . تر او سه پورې لاندې څو ډوله ښوونکي پېژنو :

عنوان	صفحه

څلورم فصل

عنوان	صفحه
اصول تدریس	۵۱
د تدریس مشهور میتودونه	۵۶
د سوال او ځواب میتود	۵۹
د مذاکرې میتود	۶۱
د مشکلاتو (پرابلم) ...	۶۱
د بحث او تحقیق میتود	۶۲
فکرئ مشوره	۶۳
د ازمایش میتود	۶۳
رول پلې	۶۴
د مسابقې میتود	۶۵
د لوبو میتود	۶۶
گروپي کار یا ...	۶۶
د سیر علمي میتود	۶۷
د پراجکټ میتود	۶۸
فعال یا آزاد میتود	۷۰
تجربوي یا ...	۷۱
د مشاهدې میتود	۷۲
د نمایش میتود	۷۲
سمعي او بصري ...	۷۳
استقرائي میتود ،	۷۳
کلي میتود	۷۴

عنوان	صفحه
د خبرو یا لکچر میتود	۷۴
د تکرار میتود	۷۸
حافظوي یا ...	۷۸
پنځم فصل	
روحیات (روانشناسي)	۷۹
روحیات یا روانشناسي څرنګه وایي	۷۹
تعلیمي روحیات	۸۱
د شاګردانو پېژندنه	۸۲
د ماشوم د تربیتي ودې مراحل	۸۷
د روزنې او تربیې مراحل	۸۷
اوله مرحله	۸۸
دوهمه مرحله	۸۸
د ۲۱ کلنۍ څخه وروسته مرحله	۹۰
جدول	۹۱
جدول	۹۲
شپږم فصل	
درسي مواد	۹۳
د درسي موادو اقسام	۹۴
د موضوع لنډیز	۹۶
ګرافونه	۹۶
پوسترونه	۹۶
نقشې	۹۷
سلایډونه	۹۷

عنوان	صفحه

عنوان	صفحه
فلمونه	۹۷
پروجکتور	۹۷

اوم فصل

عنوان	صفحه
امتحان او ارزيابي	۹۹
ا- امتحان	۹۹
د امتحان هدفونه	۱۰۰
د ازموينې ډولونه	۱۰۱
جدول	۱۰۳
د سوالونو د ډولونو له ...	۱۰۴
د مقالوي ازموينو ډولونه	۱۰۴
الف: وسيع ځوابونه	۱۰۵
ب: محدود ځوابونه	۱۰۵
ج: لنډ ځوابونه	۱۰۵
تقريري ازموينه	۱۰۶
په تقريري امتحان کې اصلاحات	۱۰۷
د مقالوي ازموينې د استعمال ځايونه	۱۰۷
ډيره ښه مقالوي ...	۱۰۸
ب- عيني او انتخابي امتحانات	۱۰۸
د آفاقي يا عيني ...	۱۱۰
ا- صحيح او غلط امتحان	۱۱۰
د صحيح او غلط امتحان ...	۱۱۰
د صحيح او غلط سوالونو نواقص	۱۱۰
د صحيح او غلط امتحان د تهيه کولو ...	۱۱۱

عنوان	صفحه
مقايسوي يا ...	۱۱۲
دمقابلوي ...	۱۱۲
انتخابي يا څوځوابه امتحان	۱۱۳
د څوځوابه ...	۱۱۴
د څوځوابه امتحان د ...	۱۱۴
خانه خالي امتحان	۱۱۴
I ـ هدف	۱۱۵
II موضوع	۱۱۵
III دسوالونو څرنګوالی	۱۱۶
IV دسوالونو ليکل	۱۱۷
۲ ـ ارزيابي	۱۱۹
دارزيابۍ مشخصات	۱۱۹
دازموينې اوارزيابۍ ترمينځ ...	۱۲۱
مؤخذ	

دافغانستان دتعلیم وتربیې اداره

د ښوونکو تربیې سیمینار

کال : ۱۳۷۰ هـ.ش

د ښوونکو تربیوي سمینار

کال: ۱۳۷۰ هـ.ش

ترتیبوونکي استادان:
امیرمحمدخان (منصوري)، محمد سعید خان، عبدالرحمن (هارون)، رحمت الله خان (صادق)، غلام فاروق (قامع)، غلام جان (زرغوني)، سورګل خان (عمرزی)، محب الله خان (مهجور)، معراج الدین خان.
مهتمم: استاد روزه ګل (وحدتي)
مشاور: استاد باطن شاه (صافی)
خطاط: احمد ولید «سعیدی»

د چاپ شمیر:

لومړی ځل: ۱۵۰۰ ټوکه په ۱۳۶۸ هـ. ش کال
دوهم ځل: ۱۰۰۰ « په ۱۳۷۰ هـ. ش کال

سرلیک

عنوان	صفحه

سریزه ۱

لمړی فصل

داسلام له نظره د معلم مقام ۴
ښوونکی او تدریس ۸
د ښوونکي تعریف ۸
د تدریس تعریف ۹
د ښوونکو ډولونه او طبقه بندي ۹
شاګرد لیدونکی ۱۰
درس په نظرکې نیونکی. ۱۰
د ښوونکو بل ډول ویش ۱۱
۱- اقتدارپلټونکی معلم ۱۱
الف: مثبت اقتدارپلټونکی ۱۱
ب: منفي اقتدار پلټونکی ۱۲
۲- رفاقت طلب معلم ۱۲
الف: منفي رفاقت طلبه ۱۲
ب: مثبت رفاقت طلب ښوونکی ۱۳
جدول ۱۴
د ښوونکي صفات ۱۵
۱- د تدریس په موضوع حاکمیت ۱۵
۲- د تعلیمي اهدافو تعقیبول ۱۶
د افغانستان په اسلامي ټولنکې ... ۱۶

عنوان	صفحه
۳- د شاګردانو سره مینه او پرهغوی نږه سوی .	۱۷
۴- د ځان ارزیابي	۱۸
الف: د سلوک پر ارتباط	۱۹
ب : د درس پر ارتباط	۱۹
دوهم فصل	
هدف او پلان	۲۱
د هدف اقسام	۲۱
جدول	۲۳
پلان	۲۵
غیرشعوري اعمال	۲۶
شعوري اعمال	۲۶
د پلان تعریف	۲۷
درسي پلان	۲۷
کلني پلان	۲۸
جدول	۳۰
موضوعي پلان	۳۱
جدول	۳۲
دیوه درسي ساعت پلان :	۳۳
د یو درسي ساعت د پلان مراحل	۳۳
دویم: د تېر شوي درس ارزیابي او	۳۴
دریم: د نوي درس جریان	۳۴
۳ د درس راغونډول	۳۵
د درسي پلان اساسي ټکي	۳۶

عنوان	صفحه
د درسي پلان وظيفي اوګټې	۳۷
د درسي پلان جدول	۳۸

دریم فصل

د ټولګي ترتيب او تنظيم	۳۹
د ټولګي پر شاګردانو سلام اچول	۳۹
احوال پرسي	۳۹
د شاګردانو منظم کښينول	۴۰
حاضري اخيستل	۴۰
نظافت	۴۰
کورني وظيفه کتل	۴۱
د درسي موادو اولوازمو تنظيمول	۴۱
د توري تختې موقعيت	۴۱
په مختلفو حالاتو کې ...	۴۳
جدول	
د دوهم حالت	۴۴
جدول	
د دريم حالت	۴۵
څلورم حالت	۴۶
د ټولګي دننه ګوني مشکلات او ...	۴۷
د لومړني مشکل ...	۴۷
د دوهم مشکل ...	۴۸
د دريم مشکل ...	۴۹
جدول	۵۰